ورکه مینه

عبدالباري جهاني

ورکه مینه

عبدالباري جهاني

د ورکې مېنې له دې چاپ څخه
د کاپي کولو حقوق د صحاف په نشراتي مؤسسې اړه لري

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	: ورکه مېنه
ويناوال	: عبدالباري جهاني
لومړی چاپ	: ۱۳٦۷ لمريز کال - ژمی
دويم چاپ	: ۱۳۷٦ لمريز کال - ژمی
د چاپ ځای	: پېښور
د چاپ شمېر	: زر ټوکه
ډيزاين/کمپوز	: اسياسافټ
کمپوزر	: حفظ الله
خپرونکې	: صحاف نشراتي مؤسسه

Published by:

Sahaf Book Pulishing Institution

Quetta

1997

بسم الله الرحمن الرحيم

اهداء

د بزم او رزم د نیمګړو ترانو دا وړه مجموعه د پښتو ژبې هغو شاعرانو ته اهداء کوم چې تقدیر محکوم پیدا کړي، واکمنانو یې پر خوله مُهرونه وهلي او زمان یې قلمونه زولانه کړيدي.

فهرست

شمیر عنوان مخ

شمیر	عنوان	مخ
۱.	د پژواك صاحب سریزه	۱
۲.	جهاني ته د محمدابراهیم عطائي شعر	۲
۳.	د پوهاند ډاکټر حبیب الله تږي سریزه	٦
۴.	د ښاغلي حبیب الله رفیع سریزه	۱۱
۵.	ورکه مېنه	۱۹
٦.	پردیس پسرلی	۲٦
۷.	اعتراف	۳۲
۸.	دغه زما غیور اولس دی	۳۸
۹.	سبا	۴۹
۱۰.	زنار	۵۱
۱۱.	وایه شین آسمانه!	۵۴
۱۲.	خرنګه هلمنده!	۵۹
۱۳.	خزان	٦۲
۱۴.	د تاشکند لور	٦٦
۱۵.	ګروبه کلا	۷۰
۱٦.	زمان	۷۵
۱۷.	شاعر	۸۳

شمیر	عنوان	مخ
۱۸.	پیرمغان	۸۷
۱۹.	زه شاهدوم	۸۹
۲۰.	زه به شهید یم	۹۷
۲۱.	ژوند	۱۰۱
۲۲.	اوښکې	۱۰۳
۲۳.	ښکلا	۱۰۵
۲۴.	مرګ	۱۰۷
۲۵.	زما شعر	۱۰۹
۲٦.	پښېمانه به سې	۱۱۲
۲۷.	بغاوت	۱۱۵
۲۸.	بیده خیالونه	۱۱۹
۲۹.	زما خزان	۱۲۱
۳۰.	د سیند لور	۱۲۴
۳۱.	هېره مستي	۱۲٦
۳۲.	زما کندهاره!	۱۳۰
۳۳.	د هستۍ قبر	۱۳۴
۳۴.	پردی انګړ	۱۳٦
۳۵.	ایږ سالارې	۱۳۸
۳٦.	لبونتوب	۱۴۳
۳۷.	تنکۍ غوټۍ	۱۴۵

شمیر	عنوان	مخ
۳۸.	بېگانه	۱۵۰
۳۹.	مه پوښته نسیمه!	۱۵۳
۴۰.	ندرانه	۱۵۸
۴۱.	ګیله من اشناته!	۱۶۱
۴۲.	سُرابي هیله	۱۶۶
۴۳.	هسکه پامیره !	۱۷۲
۴۴.	جنون	۱۷۹
۴۵.	انجام	۱۸۳
۴۶.	خوب وینم عالمه!	۱۸۵
۴۷.	تهمت	۱۹۰
۴۸.	بوډۍ مینه	۱۹۳
۴۹.	ګاونډي ته	۱۹۷
۵۰.	دعوه	۲۰۲
۵۱.	دروغجنه مینه	۲۰۵
۵۲.	رسوا رازونه	۲۰۷
۵۳.	آرزو	۲۰۹
۵۴.	زرغونه کالي	۲۱۱
۵۵.	د ښتانه مینه	۲۱۳
۵۶.	دا کونړ دی	۲۱۷
۵۷.	مات بتان	۲۲۱

ورکه مبنه

هر شاعر لره ځانته یو جهان دی، چې یوازې دی یې جهانبان دی. شعر راز دی. په راز باندې خبرې کول په زړه باندې تجاوز او په روح باندې تېری دی. زه په شعر باندې تقریظ او انتقاد ګناه ګڼم .
عبدالبارې جهانی یو استعداد دی چې که چېرې زمونږ د اسیر محیط د قید او بند څخه آزاد پاتې شي ښکلي رازونه به د سپېڅلو پیامونو د شعارونو په څېر جهانیانوته ورسوي، چې د نننۍ بازاري شعارونو بازار مات کړي. زه ورته دعا کوم چې خدای (ج) او خندا دې ورسره مل وي.

عبدالرحمن پژواك
نوی ډهلي
مارچ ـ ۱۹۸۰

جهاني ته!

محمد ابراهیم "عطايي"

۱۳۵۳، دلو، گردیز

د جهان د جهانیانو جهاني ته!
ورلېږم سلام په مینه و باري ته!

ستا جهان دی یو جهان د خوشالیو
د ښکلا و د شرابو د مستیو
هنگامه د لېونتوب او لېونیو
د شرابو او نڅا او ځوانیو

په شرابو بدمست سوی یو آبشار دی
یا یو کیف دی چې تاو سوی په زنار دی"۱"

"۱". د زنار په نوم زما یو شعر ته اشاره ده، چې عطايي صاحب ته اهدا سوی دی.

ورکه مینه

ستا جهان کې هنګامه د خم خپره ده
د توپان او د موجونو ننداره ده
په شرابو د بدمست یاغي څېره ده
یا د مستو ګناهونو خاطره ده

دې جهان ته دې جهان تولَه حیران دی
پرستش ته په سجده یې زما جهان دی

خو:

اوس نو وګوره دې بل مخ د جهان ته
د محیلو خرقه پوشو وسامان ته
د ریاو د فتنو ودې دوران ته
دې سوځونکی د جفاوو تور زندان ته

ورکه مینه

بې خبر سـه دا جهـان هم ستا جهان دی
هیر یې نه کړې مرور ځینی انسان دی

تنکی مینې برباد پرې فنا کیږي
جگر سوزه نابلده نخا کیږي
په ذلت کې یار له یاره جلا کیږي
زړه تورونکي او بې درده جفا کیږي

نه ساقي سته، نه شراب، نه خرابات سته
نه پوهیږو نه مو لاره د نجات سته

پایکوبي په سرکوبی"۱" دلته بدلیږي
د خوښی دنیا له یو سره ورانیږي
په چمن کې د خوښی گلان زمولیږي
قافله د آرزوگانو ځي باریږي

ورکه مینه

تریــح تــاراج د آرزوګانـــــــو راخـــــور ســــوی
ســتا پردې جـــهــــان لــــوی غـــم را نسکور سوی

نو: مــنا دی زمـــونږ د جــهـــانِ جـهــانـی ځوانه
دا دوهــم جــهـــان جــلا نه کـــړي لـــه ځانـه

"۱". پایکوب او سرکوب زما دوه شعرونه دي چې په دې مجموعه کې لسته.

مقدمه

که زه د جهاني په خاى واى، نو د دې مجموعې نوم به مې د "رزم او بزم نغمه" ایښى واى، ځکه پدې مجموعه کې که له یوې خوا د خونړیو جګړو لړزوونکي داستانونه په پوره شور او خوږ بیان شوي او د افغانى خوانانو د سرو لښکرو په سرو وینو سره لاسونه د افغانى سر درو د بازانو له سرو منګولو سره د شاعر د رنګینو خیالونو په قلم د هېواد د پرتمینو غرو د پاسه سره شفق کې نقش شوي دي،

ورکه مېنه

نوله بلې خوا شاعر د افغاني جهان رنګينې افسانې هم د تصور په رنګينه دنيا کې تصوير کړي او د افغاني پېغلو سرې منګولې، سره بارخوګان او سرې شونډې يې د سره سالو تر ګل ګون انعکاس لاندې د تخيل په آزاده او بې قيده نړۍ کې کېښکودلې، مچ کړې او زبېښلې دي.

دلته که له يوې خوا د افغاني جنګياليو د تورې خرپ او شرنګ ستايل شوی او د باتور افغان ولس د تورې، زړورتيا، سر تېرۍ او مېړانې ترانې غږول شوي، نو له بلې خوا د ژوند ښښونکو يو غړپ او افغاني رباب زړه وړونکی ترنګ هم په ډېر اوچت شاعرانه اندازکې تصوير شوی او د زړو ميکدو او پښتني تاريخي حجرو کيفيت په ساحرانه الفاظو تازه شوی دی.

دلته که له يوې خوا د افغاني مېړونو پولادی او له

ورکه مینه

هیبته ډکو بدنونو، کړو ورمېږونو، آهنینو متو، ببرو سرونو او لوڅو، خو مظبوطو پښو توصیف د شاعر شعرته ډیر اوچت صلابت ورپه برخه کړی، نو له بلې خوا د افغاني پېغلو د نازکو اندامونو، هسکو غاړو، سپینو مړوندونو، تورو څڼو، بربنډو بدنونو او پستو ورنونو رنګین خیال نوی شانته لذت او غذوبت وربښلی دی.

په دې مجموعه کې له یوې خواله روسي یرغلګرو سره د افغاني شازلمو د خونړیو جنګونو، مضبوطو ډغرو، بې پروا غورځنګونو او د قاطع تاړاکونو له هیبته ډکې سندرې غږول شوې، نو له بلې خوا د وطن د مستو پېغلو د اتڼونو، نازونو او کرشمو تصویرونه کښل شوي دي.

دلته که شاعر له یوې خوا د بې اسرې یتیمانو سرې سترګې او د بورو میندو د طوفاني اوښکو رانه څاڅکي ژړلي،

ورکه مینه

نو له بلې خوايې د ګل د نازکو پاڼو د پاسه د شبنم مرغلين څاڅکي هم نه دي هېر کړي.

شاعر که له یوې خوا د زړو میکدو له خُمونو، ښایسته ساقي او سازونو،... جامونو او خوږو یارانو او رندانه محفلونو په یاد ساړه اسویلی ایستلي دي، نو له بلې خوا یې د جګړې د میدان او بمونو، ټانکونو او توپونو او وحشیانه استبداد او ظلمونو د لاسه تودې چیغې هم کړي دي.

که زما دخیال د مرغه وزرونه د زمانې د استبداد ښکاري نه وای زخمي کړی، نو باور دی چې د دغه مجموعې په لوستلو به بیا په پرواز راغلی وای، د هېواد په پرتمینو سردرو، دنګو غرونو، پراخو دښتو، خالي باندو، سپېرو کنډوالو، له وېرې او وير نه ډکو ښارونو، خوږوورو ولسونو، بې شماره پردېسو به ګرځېدلی وای او د دې

ورکه مننه

مجموعې مقدمه به مې د سوز او ساز له سوځنده سندرو او د مينې او درد او هيلو ماتم له رنګينو شعرونو نه جوړه کړې وای.

امـا اوس څه چې تيار، هغه د يار

پوهاند ډاکتر حبيب الله تږي

واشنګتن د۱۹۸۸کال د اکتوبر ۱۳

ورکه مېنه

د لوی خدای ﷻ په نامه

شعر الهام دی، د زړه غږ دی او د وجدان پيغام دی، خو دا شعر له ژوند نه رنګ اخلي او د چاپېريال او ټولنې ازانګه پکښې اورو. د شاعر نظر دقيق او تيز بين وی، ظاهر پسند او ظاهر بين نه وي، د ژوند د رنګونو برداشت په بل ډول کوي او د ژوند د پېښنو پر يادداشت باندې د فن عمليه تر سره کوي او ناتراشلې ناتوږلي يې نه راخلي. شاعر لکه عطار او د شاتو مچۍ له ګلونو نه عطر او عسل جوړوي او يا لکه ماهر طبيب له عادي اوبو نه آب مقطر.

شعر خدايي داد دی، طبيعي او وهبي دی، کسبي او تعليمي نه دی، له همدې کبله په هره ژبه کې لومړی شعرونه ويل شوی او

ورکه مينه

بيا هغه ته قوانين او قالبونه تاکل شوي او د بدايعو، صنايعو او ادبي ښکلو لټون يې شوی دی. ډېر کسان شته چې د رديف، قافيې، عروضو، بحورو او ادبي فنونو لوی عالمان، څېړونکی پلټونکي او حتی ټاکونکي دي، خو شاعران نه دي او د شعر لورينه نه ده پرې شوې، البته توك بندي او د يو څو لفظونو نښلول دومره درونډ کار نه دی، خو داسې څه په شعر نه شمېرل کېږي او د شعر واقعي مقام نشي تر لاسه کولای، دا هغو مصنوي غميو ته ورته دي چې خلك اوبلك ډېرکوي، خو د الماسو بريښ، توان او متره پکې نه وي.

شعر په يوه خاص حالت کې د شاعر په ذهن کې غزونې کوي او که شاعر يې همغه وخت و نه ليکي نو د شعر دا ښکار يې له ذهن نه الوزي او بل وخت دا توان ورسره نه وي چې هغه څه بېرته و وايي، نو له دې کبله شعر يو هغه خاص کيفيت دی چې لا تر اوسه يې هم د تعبير او پېژندنې لپاره الفاظ نشته او تر اوسه

ورکه مېنه

هم اديبان او اديپوهان نه دي توانېدلي چې د شعر لپاره يو کوټلی او تاکلی تعريف او د دې کيفيت لپاره يو بيانوونکی تعبير پيدا کړي.

"شعر د خوند لپاره، که شعر د ژوند لپاره؟"

د نقادانو او اديپوهانو تر مينځ يو تود بحث دی خو زه فکر کوم چې شعر تش د خوند لپاره کومه معنا نه لري، شعر په يو نه يو ډول له ژوند سره اړه لري، خصوصاً په پښتو ژبه کې له هماغه لومړی پيله شعر له ژوند سره څنګ په څنګ راغلی او نه يوازې زمونږ اوسني شاعران د شعر مضمون ته ارزښت ورکوي، بلکه زمونږ کلاسيکو شاعرانو هم مضمون د شعر اساس او پيکر بللی او ښکلي الفاظ يې د هغه رخت او زېور.

د پښتو نازکخيال شاعر کاظم خان شيدا چې شعر يې هم ښکلی مضمون لري او هم ښکلی بافت او الفاظ، له نن نه دوه نيم سوه کاله وړاندي دا موضوع داسې روښانوي:

ورکه مېنه

مضمون د شعر لکه پيکر وي
دنګين الفاظ يې رخت او زېور وی
ورته ضرور دي دا دواړه توکي
پيکر که هر څو دلرباتر وي

تر دې تولو خبرو وروسته اوس راځم "ورکې مېنې" ته او د "ورکې مېنې " دشاعر شعرونو ته، زه داشاعر له پنځلسوشپاړسو کلونو راهيسې پېژنم او پيژندګلوي مې هم د ده د شعر په سر او دده دشعر په اثرورسره شوې ده، دده شعرزما خوښ ؤ،نوځکه مې دی هم خوښ ؤ،ده شعرونه لږويل خوپه دې لږو شعرونوکې به يې خوندونه ډېر وو،ځکه چې ده به هم له موضوع اومضمون سره انصاف کړی ؤ او هم له فن او هنر سره، د ده په شعر کې د مضمون او شکل بافت متناسب، سامعه نواز او روحنواز ؤ او له همدې کبله په کم سن کې د شعر لوړ مقام ته ورسېد او د هېواد د ګوتو په شمېر شاعرانو کې

وشمېرل شو.

زه "جهاني" ښیم، عبدالباري جهاني، هغه شاعر چې ښکلو شعرونو به یې هم مشاعرې ښکلې کولې، او هم مجلې او جریدې. د ده پخواني شعرونه د مستۍ او غورځنګونو نه ډك وو او اوسني شعرونه یې د پردېسۍ له سویو ازانګو ځخه، خو یو څه چې د ده په شعر کې یې خپل ثبات او ټینګار ساتلی،هغه په هیڅ حال کې مایوسۍ او قنوطیت ته تن نه ورکول دي، نو ځکه د ده د شعر پخوانۍ مستي د قهرمانۍ په مستۍ بدله شوې او هغه وخت یې که په لاسونو دخاورینو جامونو ماتولو کیسې کولې اوس په سوکونو د پولادي ټانکونو ماتو لو کیسې کوي، هغه وخت یې که بغاوت د فکر او ذهن زنځیرونه ماتول اوس یې بغاوت د سره ښکېلاك د ملتونو د ښکېللو او ایللو له زنځیرونو سره په جنګ دی.

ما مخکې وویل چې جهاني زموږ د هېواد په معاصرو شاعرانو

کې د ګوتو په شمېر شاعرانو له ډلي څخه دی، دا شاعرانه مبالغه مه ګڼئ، دا يو حقيقت دی، موږ له ده نه په سن مشران شاعران لرو، خو تر ده ښه او تر ده خواږه شاعران نه دي.

د نور چا نومونه، نه اخلم، دا زه په خپله هم شاعر يم، هم تر ده مشر يم او هم مې د کميت او شمېر په لحاظ تر ده زيات شعرونه ويلی دي، په دې باب چې له شاعرانه تعلی او تصلف نه تېر شم او د يوه واقعيت بين نقاد او د علم او فن د موازينو په اساس قضاوت وکړم نو په واز کومي وايم چې زما شعرونه سره له دې چې د پښتو ادب ذخيره او زېرمه ده او د کميت په لحاظ د پښتو ادب په بهير کې اضافه ګڼل کيږي، خو د کيفيت له مخې کوم نوی او فوق العاده زياتون نه دی، لکه ماغوندې ډېر نور شاعران هم شته چې په پښتو کې شعرونه وايي خو د "جهاني" له شاعری سره د يوه يوه کس شاعري سيالي کولای شي، نو څکه بايد په زغرده قضاوت

ورکه مېنه

وکړم چې: "د جهاني شعر په پښتو ادب کې د شکل او محتوی، او د کيفيت او کميت له اړخه يو ښه او په زړه پورې زياتون دی"خو له دې سره ـ سره ده تر اوسه کتاب نه درلود او شعرونه يې په کتابي بڼه نه وو خپاره شوي.

زما سره تل دا هيله وه چې د ده د شعرونو مجموعه د چاپ غېږې ته ولوېږي او د هر چا لاس ته ورسېږي. ها تېرې ورځې ښاغلي "غروال" او بيا ده راته وويل چې زه خپل د شعر کتاب چاپوم، ته څه پرې وليکه! زه دومره خوښ شوم چې له ټول مصروفيت او سرگردانۍ سره ـ سره مې بې اختياره "ښه" ورته وويل او دا دی په دې څو کرښومې خپله غاړه خلاصه کړه، خو د ده د شعر حق مې ادا نکړای شو.

زه گران جهاني ته د دې کتاب د خپرېدلو مبارکي ورکوم او زموږ د سپېڅلي جهاد او ادب مينان يې لوستلو ته رابولم او د لوی خدای له دربار نه عاجزانه هيله کوم چې ډېر ژر دا"ورکه مېنه" په گډه ومومو او د آزادۍ پر ځای يې د آبادۍ له پاره دی، زه او د

ورکه مینه

هیواد تول دردېدلي شاعران په مینه ـ مینه ترانې ووایو او د خپلې دې سپېڅلې مور د خدمت لپاره ګامونه اوچت کړو، فکرونه ستړي کړو، لاسونه تناکې کړو او د هجران ترخې شپې مو په خواږه وصال بدلې کړو.

په همدې هیله

د خدای په امـــان
حبیب الله رفیع
پېښور- آبدره روډ
۱۳۶۷/۱۰/۱۹هـ ش
۱۹۸۹/۱/۹م

ورکه مینه

ورکه مېنه

د ژوندون وحشي موجونو
له آشنا مېنې بېل کړی
د زمان ياغي بادونو
بل جهان ته يم راوړي

رايادېږي مې جونګړه
رايادېږي يې خيالونه
هسې لېرې راته ښکاري
لکه ورك ستړي خوبونه

نه د چا پر بېدو شونډو
څه مرموزه نغمه ناځي

ورکه مېنه

نه د چا له پښتو سترګو
د هوس ترانې پاڅي

نه د چا پر سپينو لېچو
توري څوڼې را خورې دي
نه د مړو کتو يادونو
سپينې کړې د چا شپې دي

نه د چا پردنګه غاړه،
لونګين په ورو - وروزانګي
نه مستې د مستو پېغلو
ماتې کړي دي ګلشانګې

نه هغه د سوما بوټي
نه هغه د غرو لمنې

ورکه مينه

نـــه اوبنـبه ،نه يـې هـى هى دى
نـــه کـيـږدی دي چـيـرته پلــنــې

نه هـغـه وحـشـــي دښـتـو نـه
نـه خـــاتـول پکـــې غـــوريـږي
نه شـــيلـې نه يـې باډاســـکـــې
نـه څـيـې پکـــې مـــســـتيـږي

نـه "خـــــوشال" لـه زوره ږغ کـــړه
په ښـکاره چــــې خـولـه يې راکـړه
نه لـــه بـــخـتـه فـــريـــادی دی
چـې مـــلـګـرو ورتـه شـــا کـــړه

نـــه "حـــميد" په شـنه زړګي کـــې
خـيـــال د شـونډو دی ســاتلـــى

ورکه مینه

نــــه فــراق د نـــو خـــطـــانـــو
کـــــری شـــپـه دی ژړولــــــی

نــــه مـحـفـل سته د رنـدانـــو
نه قـيامت د پایکــــوبــونـــو
نه د شـــــيخ په لاس عـصـا ده
نه فـرياد لـــه سرکـــوبـــونـــو

نــه ښـــه زېـری د فــــردوس دی
نــه هــــــوس د کـــــوثـرونــو
نه ښـــه ویـــره د ګـنــاه ستـــه
نـه وحـشـت لـه دوږخـــونـــــو

نــه جـــنــون پر خـــروښ راغـلــی
نه هـــــوښـياره بد مـستـي ستـــه

وركه مينه

نه د عقل ليونتوب دی
نه د بنګو هوښياري سته

دلته اور د ژوندون نسته
د ساړه جهنم كور دی
دلته هر څه ايرې كيږي
د حيات په نامه ګور دی

دلته هر څه سودا كيږي
دلته هر څه بازاري دي
دلته ويني بيګانه دي
دلته ميني ظاهري دي

زما د جګو غرو سندرې
څوك يې نسي اوريدلای

ورکه مېنه

زمــا زيـــړه پـــښتنـــه ژبـــه
دلـــتـــه نـــه ســـي ګړيـــدلای

زه داســـــتان د بـــربــــاديـــو
زمــا کـــيـســي په وينو سرې دي
نه له ســـتوني مـــې رږغ وځـــي
نـــه په ســـورکـــې زمـــزمـی دي

دلـــتــه وژنـــم خــپلې هيلــې
بـې لـمبې ســوځـــم ويلـــيږم
نـــه د چـــا د لارې مـــل يـــم
نـــــه د چا مـــخ ته بلـــــيږم

زمــا هـغـه جنت پـــردی ســو
چـــې مـــې حـــورې ورســـتايلـــې

ورکه مینه

زمـــا هـــغـه کـــورګـــی تـبـاه ســـو
چـــې کـــیـســـې بــه مـــې کـولـــې

هـــــا نسیـــم لـمـبه ـ لـمـبه ســـو
چې یـــې ویـــنـــې ویـــښـــولـــې
هـغـه جـــــام لـه زهـرو ډك ســـو
چې مـــســـتـــی یې پـــاڅـــولـــې

زمـــا وروسـتـي بـخـري مـــړه ســـول
زمـــا، نـــه مـــه غـــوارۍ اورونـــه
زمـــا ګـــونـګـــی احـسـاس مـړ سوی
زمـــا نـه مـــه غـــوارئ شـعـــرونـــه

ویرجینیا

۱ ـ ۱۹۸۵

پردبس پسرلی

لېرې لېرې له هېواده
د پردیو په وطن کې
د اغزیو په کاله کې
زما د هیلو په مدفن کې

له ښایسته پغمانه لېرې
په ساړه شاني سقر کې
راکوښه له کندهاره
په بې مهره پېښور کې

د سخي طبيعت غېږ کې
د شنيليو په لمن کې

ورکه مينه

د تنکي نيالګيو خوا کې
يوه شنه غونډۍ چمن کې

مخامخ کندونه ښکاري
د غروب زرينې وړانګې
برېښوي لانده برګونه
ځلوي د نيالګو څانګې

له لوېدلي لمَره خېژي
سري شغلې لکه اورونه
ته واغورونو رارهې کړل
د سکروټو درمندونه

ورکه مېنه

لېږي ترږونه را درومي
د سپرلي نازك بادونه
ګڼې وربخي سره اوري
لکه تور مات سوي غرونه

لکه دوه غليم ديوان چي
يو له بل سره خښمېږي
لاس په لاس سي، غېږ په غېږ سي
پښي يې غره سره جنګېږي

رازوانه ده تولى ته
يو مرغۍ خپاره وزرونه
له نازك ستوني راباسي
د هوسه ډك رغونه

ورکه مېنه

تــه واناخـــي پـه هــوا کــې
تـه وانـاز کــوي ګــډېــږي
د مــلــګرو غـېږتـــه خـــانــدي
هـــــوسـېږي او چـــغـــېږي

دواړه شـــپـونـکـــي پـه مـــخ کـــې
راروانــــــې څـــــــو وزې دي
وږی نـــس ســـره مـــلـــګـــري
دوی چـاودلـــې سترې پښــــې دي

لـــه ويـالـــې اوږېـــده کـــېږي
د کـــــرړيـــــو آوازونـــــه
د ګـــــورم ســـره مـلـــګـري
د ګـــوجـــر درانـــه ږغـــونـــه

ورکه مېنه

هر څه وينمه آشنادي
خو پردې راڅخه کور دی
رانه لېرې خپله مېنه
رانه ورك د بابا ګور دی

زما پر ښکلي پغمان اوري
له آسمانه آفتونه
سپينې واورې سره لمبه دي
باندې ګرځي تور دودونه

زما له مسته کندهاره
بوی راځي د وحشتونو
شنې ويالې د وينو کورم دي
ږغ د توپ او د ټانکونو

ورکه مینه

د کـــرمـلـین خـــروړي ســــــپي به
د پــــروان پـــر تـــرو ګـــــــرځـي
د نـــیپالـــم تـــــــــــنورونـــــــــه
د پـنجـــشـــیر پسر تــرو غــورځـي

زه بـــــه اوس هـــــم لاهـــــو کـیـږم؟
رانـــه هـــیر بـــه وي دردونـــــــــه؟
د پـردیـــو پـــســـرلـــــــي تـــه
ورلـــیږمـــه بـــه شـــعـرونـــــه؟

پیښنور

۱۹۸۴/۳/۳۰

اعـــــــــتراف

لېـرې سئ خيالونو له مالېرې سئ
زه لـه خپله ځانه بېګـانــه يمــه
نـه پر ســـر اورونه لګــولای سـم
نـــه د چـا د شمعې پروانــه يمه

لــېرې سئ زمـــا هيلو لېونۍ هيلو
زمـا سينه کې ځای د نخېدو نسته
زه د ځـوانيـمرګي خوښۍ کلـی يم
کــور کې مې کيسه د اورېدو نسته

نــور نه د ساقـي سره آشنا يمــــه
نـه د خــم پـــه طـمـع ورغـلی يم

ورکه مېنه

نـه مــې د چاجام په شونډو ایښی دی
نـه د چا په صف ورکـښېـوتـلی یم

نور مــې لـه آوازه مســتي نـــــه زېږي
زړه مــې د خــیالــونــو هدیره سوله
نورد چامـحـفـل کـې بلېدای نه سم
مړه سوه دآرزو شمع تيــــــاره سوله

مـه غـــواړئ لـه مانـه فرهادی کیسې
زما په افسانـو کـې شیریني نسته
زه لـه خـپـله رنګه رابـیـل سـوی یم
زمــاپـه بې رنګۍ کې رنګیني نسته

ورکه مېنه

ماته د ګرداب خبرې مه کوئ
زه له توپانو راتښتېدلی يم
ما لا د سيلاب څپې ونه لېدې
زه تشو خوبونو وېرولی يم

ماليده چې زما د ورکتوب ياران
څرنګه زمان د مرګي شومه کړه
زما په ګلو بار بوټي يې لاښن کړله
ما يې د ژوندون برخه له کومه کړه

ماليده چې يهوړه د مرګي څپو
ډکه له ژوندیو آرمانولړۍ
ماتې کړې نامردو جلادي لاسو
سپينې د صفاو دالفت کړۍ

ورکه مېنه

مــالــيده چي تــورو ځنځيرونوکـــي
پـــورته درد ډېدلي آوازونـــه ســـول
ما لـيده چي اوسـپني بـه مستي سوې
مـــات به پـه وهلو کـي هډونـه سـول

ما ليده چي څـرنـګه د ژوند په نوم
څوك د مـرګي غېږې ته ورتللای سي
څرنګـــه دســـترې آزادۍ پـــر لار
خپلـــه آزادي قـــربـــانولای ســـي

مــا ليده چي مــاتې ککـرۍ سولـي
مــا لـيده چي ورك يې لحـدونـه سول
ما لـيده چي توی سوې بې ګناه ويني
رنګ د چـا برېتونه او لاسـونـه سـول

ورکه مېنه

واخیستې جونګړې د توپیان څپو
ړنګ د خلکو کلي او ښارونه سول
سرې لمبې د توپ له سینې والوتې
اور د چا د هیلو جنتونه سول

زه په غړېدلو سترګو غلی وم
زه د جلاد سترګو وېرولی وم
ما د آزادۍ نوم اخیستای نه سو
زه د مرګ له نومه لړزېدلی وم

ما ویله نه چې زما مرۍ به هم
چیرې د قاتل منګولې ونیسي
زماکورګی به هم چیرته خراب کی څوک
زما انګړ به هم ناولې ونیسي

ورکه مینه

ما ویله نه چې خزاني سېلۍ
زما د ګلو لښتې رانسکورې کړي
نه چې څه نرۍ څپه یې ووهي
تورې وریځې جوړې باندې سیورۍ کړي

زه د مرګي ببرې دتاړاك وهم
لیرې له ملکونو اړولی یم
زه د ژوند په لټه د خپل کور څخه
دلته د پردو غېږته راغلی یم

مه اورئ، زما افساني مه اورئ!
پرېږدئ، نورې زمازمزمې مه اورئ!
چا چې خپل انګړ بل ته پرې ایښی وي
څئ د هغه چا تراني مه اورئ!

واشنګتن

۸/ /۱۹۸٤

دغه زماغيوراولس دی

دغه تـوري سپـينې رېـړې
دا ببـر ـ ببـر لاسـونـه
دا سـرې سـرې دا غـتې سترګې
لـه هيبتـه ډك مـخـونـه
دا لـه زوره ډکـې موټې
د فـولادو مـړونـدونـه
د فـولادو پـه سينو کـې
غـيرتـي ډبرين زړونـه
دا زيـږې ـ زيـږې خـبرې
د زمـريـو آوازونـه
پـه سـرونـو کـې يـې شـور دی
پـه سينو کـې تـوپـانـونـه

ورکه مینه

دا کـړې وړې بـګـړې بــــه
یـوه ورځ سـره غـــونــډیـږې
تر یــو ځــو جـرګـو راوروســـته
د تـــوپـان پــه دود خـــروښــیـږي
د کلـــــو تــــړې دري بــــه
بیـا پــه وینـــو اوبـه کـــیـږي
د غـلـیــم پــه بنـګلـــو کـې
هــلـتـه بل میـوند جــوړیـږي

جـــلا لا بــــه را ژونــــدۍ کــي
د اکـبــر پـــه مــیخانـــو کـې
درز بـــه واچـــوي سـینو کـې
ډار بـــه واچـوي پــه زړو کـــې
د خـنجـــر عـکـس بــه یوسـي
جـهـانګـیر تـه په جـامـو کې

ورکه مېنه

د اورنګ شراب به ورکي
د سرونو په کاسو کې

دا تر پښو لاندې قبرونه
دا هېر سوي لحدونه
هر لحد يې افتخار دی
پکې پټ دي داستانونه
دا تاريخ د مېړنيو
د نيکونو يادګارونه
هره پانه يې غيرت دی
په هر باب کې توپانونه
دا په وينو روزل سوي
دا لاله دا سره ګلونه
دا د غرونو لوړې څوکې
په لمنو کې لعلونه

ورکه مېنه

يو د بل په غېږ اغوستي
لاړ پر لاړ پېيلي غرونه

دا وطن د عقابانو
دا ځالې ده د بازانو
دا خيبر دی دا شمشاد دی
قتل ګاه د پړنګيانو
دا سر کښنه دا مغروره
عزرائيل د دښمنانو

هر سيلاب يې بت شکن دی
هره دښته يې ميوند دی
د توپانه ډکي وربځي
هر يو څاڅکی يې هلمند دی
هر ورکوکی يې دريا دی

ورکه مېنه

اپریدی دی که مومند دی
پکې غورځي د پلار وینه
د مېرویس نیکه پیوند دی

دا میوند ـ منیوند دښتونه
دا هلمند ـ هلمند رودونه
له غیرته ډکه مینه
دا اټک ـ اټک سیندونه
په څپو کې یې رزمونه
په هر موج کې سېلابونه

دا وطن د زمریو
دا هېواد به آزادېږي
دا د مست پښتون اولس دی
دا په وینو کې غورېږي

ورکه مېنه

په دې جنګ کې يې پلار مړ دی
چې میدان وینـي مستېږي
هیبت پروت دی دې لاسو کې
زولني ځیني بېرېږي
دا يې زېری د طغیان دی
لا سبا توپاني کېږي

بیا به ګرم کي بزمونه
بیا به خپل کي دا دښتونه
بیابه سور دستمال تر ملا کي
بیا به تاو کي چنګ بریتونه
له آمو تر آباسینه
سره يو به کي موجونه
کي به ناڅي ښکلي پېغلي
سپیني لېچي سره لاسونه

ورکه مېنه

کـــې بــه ځــې کــاروان د اوبنـــو
ور آزاد بـــه وي مـــــزلـــونـه
کــوچـــۍ ښــکلـــې بــه وراخـلي
تر ســـالــــو لاندې ګامـــونـه

یـــوه ورځ پـــر دغـــــه ځـمکـه
پـــه هـمــدې تنګـــو دروکـــــې
د آمـــو مـــستــو څپـــو کـــــې
د اټـك د ســـینــد مـــوجــو کـې
تــر همـــدغــه آسـمــان لانـــدې
د هـــمــــدې خـــاورې دبنـــتو کې
د بازانــــو لـــه ځـــالـــیـه
د عـــقـــاب په آشـیـانـــو کـــې
د پړانـګانــــو پـه کـــورو کـــې
د زمـــریـــو پـــه زانګــــــو کې

ورکه مېنه

د همدي غرونو لمن کي
دغو ورانو خرابو کي

د سکندر لېچي وې ماتي
د چنګېز پر کور ناورين ؤ
د اورنګ خنجر يې پڅ کی
د بابر زړه په غمګين ؤ
د فرنګ توپ يې خاموش کی
د بابا زړه يې لا شين ؤ
هره تيږه يې پامير ؤ
هر لښتی يې آباسين ؤ

دغه شين آسمان شاهد دی
دغه ستورو هم ليدلو
دغه لمر، دغه سپوږمی وه
دغه وږمو هم کتلو

ورکه مېنه

د سبا د جنګ په طمع
موږ دا نن لا خرو ښېدلو
د سرونو بازار تود ؤ
مستانه باندې ورتللو

بيا به ګورئ بيا به وينئ
پردې ځمکه قيامونه
زندانونه به ماتېږي
ترې راوځي به مړونه
شخې ـ شخې به شملې وي
تور ببر ـ ببر برېتونه
د ملالې د ننګ چيغې
پر دښمن باندې تاختونه
بريالي به را روان وي
د نېزو په سر، سرونه

ورکه مېنه

بیا اختر به وي د فتحې
په سرو وینو سره لاسونه
نړوي به سوځوي به
د زاړه دښمن قصرونه
هیبتي ناري به واورئ
لړزوي به آسمانونه

بیا به دا آسمان شاهد وی
زموږ د فتحې د جشنونو
خم به سر په سر تشېږي
د مستانو به جامونو
غلیمان به فرارېږي
د ایمل بابا د غرونو

څو چې غرونه وي پر ځمکه
څو سیندونه لا بهېږي

ورکه مېنه

څـــو مجـمــر د آســـمان تــود وي
د جــــهـــان پــر مـــخ ځلــــېږي
څو چې وريځ پر آســمـــان ګـرځـــي
څـــو چې څاڅکـــي تـرې توئــېږي
څـــــــو په نــــوم انســـانـيت وي
د بشــر پـــه نـــــوم يــادېــــــږي
د پښـــتون قـــام بـه ژونــــدی وي
او هـــمــدلــتـه بــــه اوســــېږي
دغـــه زمـــا غـــيـور اولــــس دی
دغـــــه زمـــا تـــوپاني قـــام دی

کابل

۱/۱۹۷٤اګست

سبا

ساقي پرون د مستۍ لاپې کړلې
ما د خمار له ترخو شپو ژړله
دوی مستېدل ما د سبا د وېرې
د دوی پر تشو پيمانو ژړله

دوی له طلوع سره فالونه کتل
ما د غروب خونړۍ سترګې ليدې
دوی د جنت په کېسونه مړېدل
ما د دوزخ له کړاوو ژړله

دوی د خيالونو سمندر کې لاهو
ما يې ځپو کې نهنګان وليدل
دوی د آرام ساحل غوټې وهلې
ما له سرکښو توپانو ژړله

ورکه مینه

دوی له نوبته رقیبان وایستل
په بربادۍ یې پیماني پورته کړي
ما د زخمي ښامار د قهر سترګې
لیدلې ځکه مې ورو - ورو ژړله

ملګرو زما د میخانو ملګرو!
زما د خمونو د جامو ملګرو!
سبا هوښیار اوسئ مستي به نه وي
ساقي به نه وي پایکوبي به نه وي

کابل

۱۹۷٤/ مارچ

زنار

ساقي غاړه مې راوړې
په زنار يې زينتي که
د ګناه په سيلابو مې
دوږخونه توپاني که

په خمار کې لاهو سوی
په مينا مې آسماني که
د مستيو په بقا کې
دا لندې ژوند را فاني که

ساقي نن مې لاخړوب که
سبا هر څه چې پېښېږي

ورکه مېنه

لکه زموږ چې زاهد هېر دی
دده زموږ ګناه هېرېږي

راکوه يې چې څښو يې
دا ورستې پيالې د مينې
دا د تاك د زړګي وينه
د شرابو ډکې پينې

دا د نن رندان که نه وه
هم به خم پر خم تشېږي
د زردشت د مذهب اور دی
دا به سر پر سر بلېږی

راکوه يې چې مستېږو
په مستۍ کې مو هستي ده

ورکه مبنه

مــوږ د مـــوج په اور ژونـدي يو
په آرام کـې مـــو نـېستـې ده

د رنـــدانـــو پـــه آئـيـــن کـــې
د ســاحـــل غـــوټـــې وړې دي
د بـــحـرونو تـــوپـــانـــو کـــې
د اوږدې بـــقـــاء څـــپـــې دي

د هـــغـــو څـــپــو پـــه طـــمـــع
د بـــد مـــستـــو حريـفـــې ده
هستـې سـا زه بـد مستـې ده
نـيستـې سـوزه پايكوبـې ده

کابل

۱۹۷٤- سپتمبر

وايه شين آسمانه !

وايـه شين آسمانه تـاکـوم بـل چېرته ليدلی دی
داســي ارادي چـې تـوپـانـونـه خـپـلولای سـي
داســــي اولســــونه چې ســېلونـه ايـلولای سـي
داسي کـلـك سوکونـه چـې تانکونه اوبولای سي

دغســي سيني چې فلکي سېلاب راگــرځــوی
دغســي طغيان چې ياغي سوي سېلابونه خـوري
دغسـي نـاره چـې اسـرافـيـل ورځـــخه وربېږدی
دغسي قيامت چې دوږخونه خوري،اورونه خوري

داسـي پهلوان چـې د قــدرت زولنـې وشـلـوي
طلـــسم دپـېړيـو ماتوي لا قـانـع کـېږي نـه

پښتو ته يې د قرن اهريمن په ننواتو ځي
دې لکه زخمي زمرى غرومبېږي آرامېږي نه

وايه شين آسمانه تا کوم چېرته اورېدلې دي
داسې حماسې چې افسانې باندې رنګينې سي
داسې کلنګي عزم چې هسکې څوکې کوزې کړي
نکل دفرهادچې ترخې شپې باندې شېرينې سي

کله دې د قهر چيغو چت رالړزولى دى؟
اور دانتقام دې د چا سترګو کې ليدلى دى؟
داسې څوك لرې چې يې مرمى پښتوته سجده کوي
کله دې د مرګ پر پوله هم څوك ازمويلى دى؟

تا کله نمرود پخپل انکار کې سوځولى دى؟
بل د آزر زوى دى پردې ځمکه زېږولى دى؟

ورکه مېنه

دغسې فرعون چې دآسمان پـه لور لښـکرې ورې
تا کلـه پر ځمــکه پرې ایسـتلی ژړولـــی دی؟

وایه شین آسمانه! تـــه هـم کلـه لړزېدلی یې؟
کله د چا غږ لـه درانـــه خوبـه پـــاڅولی یې؟
کله دې سېلونـه پـه لـمن کې یـاغـې سوي دي؟
کله د سرکښو تماشې تـــــه کښېنسـتلی یـې؟

کلـه دې دا غـرونه دا لاښـونـــه ازمــویلي دي؟
کله دې د قـــهر خـرخښـې پکـــې کتلي دي؟
هره پانــه توره هـــر یــو کـانـی یې سکروټه وه
بیادې غوځ سرونه د سر کښو هم شـمېرلي دي؟

ستاخوبه په یادوې چې د لوړو غروپه څـوکو کې
څاڅکې یوکېدله ترې نه جوړلوی سـیلابونه سول

ورکه مېنه

وغورېدې پـر ښې د قدرت ببرۍ يې ډوبې کړې
تندر سـو، بـاران سو، توپاني يې کړلېچونه سول

ستا خوبه په يـاد وي د مـلالـې ميوندۍ چيغې
سـتا خـوبـه يادېږي درېدي او تـورپېکۍ کيسې
هير خوبه دې نـه وي چې دا غــرونـه زلـزلې لري
هېـرې خو دې نه سوې لـوګر ۍ اوخيبرۍ کيسې

اوس دې زړه ته لوېږي چې داتورې توپاني پرښې؟
اوس دې زړه ته لوېږي چې داتـورې پولادي دړې؟
ورسي دچاپښوته اوښکې تويې‌کړي سجده وکړي؟
ټينـګې نافـرمانـې دا سـرکښـې پنجشېرۍ ترې

وايـه شـين آسمانه! تا کـوم بل چېرته ليدلي دي
داسې اولســونـــه چې سېلونـــه ايلـــولاى سي

ورکه مبنه

داسې ارادې چې توپانــونه خپلــــولای سي
داسې کلك سوکونه چې ټانکونه اوبولای سي

کابل

۱۹۸۰ـ اگست

څرنګه هلمنده!

څرنګه هلمنده زمونږ د چيغو زور دې وليدی؟
ويښې دې خپې سوې ساړه څاڅکي دې اوروونه سول
مستې دې سوې غاړې د کلونو له خمار څخه
ختم دې خوبونه سول سر کښه دې موجونه سول

واغوستل ژوندیو کفنونه د مرګي په نوم
وښورېدې شنختې را ژوندي مو لحدونه سول
راغی د تاريخ د حوادثو توپانې بچې
ډک يې د دښمن له ککريو ګړنګونه سول

څرنګه هلمنده دا اولس د ايلېدلو دی؟
څرنګه هلمنده دا توپان د ګرځېدلو دی؟

ورکه مینه

زوی د حوادثـو حـوادث یــــې زیــږولــــــي دي
ووایــه زمــان تــه دا رسـتم د غــوزارېدلــو دی؟

نـه مـې درتـه ویلـې چـې ژونـدي بـه مړه اورونـه سې
څاڅکي بـه یـو کـېږي ځینې جوړ به سیلابونـه سي
یو به سي، راویښ بـه سي، قوي به سي،رهي به سي
مات به زندانونـه سـي خـپـلواك بـه اولـسونـه سي

نـه مـې درتـه ویلـې چـې شاهد بــــه آسمانونه وي
ژوند بـه وي، بـری به وي، د فـتحې به جشنونه وي
تښـتـي بـه، پـټـېږي بـه مېلمـه او کوربانه رهــزن
موږ بـه یـو قـاضي بـه وي د عدل بـه حکمونه وي

بـیـا بـه تــه شاهــد اهـریمن د پــــــرزېدلــو یې
بـــیا بـــه تــه شاهـد د نمـرودانــو د سوځلـو یې

ورکه مینه

بیا به د کرملین د سپیو کوکې اوریدلای سې
بیا به ته شاهد د انتقام د اخیستلو یې

بیا به ته شاهد یې چې آزاد به دا دښتونه وي
بیابه ته شاهد یې چې خپل کړي مو داغرونه وي
شپون به وي، شپیلۍ به وي، رمې به وي شنیلۍ به وي
پلنې به کیږدۍ وي پکښې بل به زموږ اورونه وي

څرنګه هلمنده زموږ د چیغو زور دې ولیدی
وینې دې خپې سوې ساړه څاڅکی دې اورونه سول
مستې دې سوې غاړې د کلونو د خمار څخه
ختم دې خوبونه سول سرکښه دې موجونه سول

کراچی - ۱۹۸۱/۱۲

خزان

زه هم شور د خرابات وم
زه هم سوځنده لمبه وم
ډېرې اوښکې مې ژوندۍ کړې
زه هم ویښه هنګامه وم

زه هم ژوند وم د بزمونو
زه هم رنګ وم د سازونو
زه هم بنګ د پیمانې وم
ښکلې لار وم د اورونو

ماهم تش کړله خمونه
ماهم مات کړل ګیلاسونه

ورکه مېنه

ما هم نوش د شوندو اورکړ
ماهم توی کړله خالونه

ماهم تاوکړی د چا څونې
ماهم واخیستی مچکې
ماهم وشکول ګلونه
دوې منګولې مې کړې ډکې

ماهم لوځې کړې پېغلوټې
ماهم وشلول لاړونه
ماهم بنځ کړل ګناهونه
ماهم وکړل اورونه

ماهم سترې میخانې کړې
ماهم سپینې تورې شپې کړې

ورکه مینه

مستـــــول مـــی ژونــــدی لاره
مـــاهم ويـــبنـــي قـــافلي کړي

مـــوږ هـم ومـســـل ســـباتـه
مـــوږ هـم رنګ کړل غـروبـــونه
موږ هم روڼې اوږدې شـــپې کړې
مـــوږ هم تـــور کړل خـلــوتونـه

موږ هم مستې کـړې ګل ځانګې
مـــوږ هـــم وسپړل ګـلــونـــه
مـــوږ هـم ويـبنې ترانـې کـړې
مـوږ هـــم وتـــخنـــول زړونـــه

د هستې مستـه بـيـړۍ مـــو
ناګـهـانـــه تـــوپـــانـــي سوه

ورکه مېنه

د امـــيـــد فـــردوســـــي لاره
شـيـطـانـي سـوه، دوږخـي ســوه

وغــوتېيــو تــه مـــوسيخ ســول
د خـــزان وحـــشـــي بـــادونـــه
پــه ګلشن کـې مـو شروع ســـول
د خـر مســتــو پــايــکوبــونــه

سره بـــلا ســـوه را نـــازلـــــه
پـــر صــفــونـــو د يـــارانـــو
د کـمـون طـاعـون تـــبـاه کـړل
مـحــفــلـــــــونــه د رنـدانـــو

کابل - ۱۹۷۹/فبروری

د تاشکند لـــــــــور

د تــاشکــنـد لـوري ښــکلي اوزبکي
پـــه حــسن حــوري ښــايستي ملکي
لـکــه پــه ګـلـو پــوښلي لـښــته
پـــر مــلا غبرګېږي، راپورته کېـږي
ډکـــه لـــه مـهـره، ډکـــه لـــه نازه
چاتــه مسکی شي، چــاتـه خـنـدېږي
لـکـــه پـــه غـــره کي سهاري زرکـه
پـــر لاري درومـي تـــــه وانـــخـېږي

ورکه مېنه

تــه وا رقصــــېـــږي، تــه وا ګـــډېـږي
تــه وا غـوټۍ يـې دا اوس غــوړيـــږي

چـېـرې بــه زوږ کــې دا ښـکلي حسن؟
پــر چا بــه تـاو کـې نـازك لاســـونه؟
څـوك به دې زيـبـښـي دا سورکۍ شونډې
څـوك به دې لـڅ کـي داسپين ورنونه؟
څـوك بـه دې سـتايي داهوسۍسترګې؟
څـوك بـه دې تاو کـي دا تـــورې څونې
پـر چـــا بـه پـلـــورې د نـــاز کـتـنـې
دا کـــږې وروځــې داسـتـرګــې بــوڼې
دا نـــرۍ غـــاړه، دا جـــګــــه ونــه
دا کـــږيـدني پـــــورتــه کــېـدنـــې

ورکه مېنه

تـــه هم پـــوهـېـږې چې ښــايسته يې؟
تـــه هـــم پوهـېـږې چې افسانـــه يې؟
تـــا هـــم سـوځـلـي د چـــا خــوبــونـه؟
تــه هــم اورونـــه، تـــه هــم لمبه يـــې؟

کــاشکـــې چې روغ وای ستــا وزرونه
کـــاشکـې چې مات وای دا قفسونه
چې الـوتـلای، پــــورتــــــــه کېـدلای
چـــې پـې کـــول دې لـــېـــرې مزلونه
تـــا خـرخـــولای، مـــا رانـيــــــولای
د بـــورو ســـتـرگـــو بيـده نـــازونـــه
افـسـوس چـــې نســـته د نـــجات لارې
بيـځـايـــه سوځـې تـــــــنها ويـلـېږې
ړنـــا دې نـــه کړل خـــپـل خـلوتونـه
د څـــو نــــاکـســـو پـــر کـــور بلـــېږې

ورکه مینه

کـاشکـي چـي تـله وای چي الواته وای
چـیـرتـه چـي زه وای او هلته تـه وای
مـــا پوهولای چـــي ښـایـسـتـه یـــي
مـــا درښـودلای چـــي بتخـانـــه یـي

تاشکند

۱۹۸۰- سپتمبر

ګـــړوبه کلا

پــه لــویه لارکې د شیلی تــر څنګه
ګـــړوبـه کـلا د تــورو خونـوســره
د زمـــانې د ســیلابـــونـــو شــاهــد
د شـــوریـدلــو دېـوالـونـو ســره

دا لــه پـخـوا څـخه هېر سوی کورګی
دورکـو میــنــو داســتانــونـــه لـري
دا د مســتــی دا د خـمـار دنــیاګــی
څــه نـــاویلـي شان رازونـــه لــري

د پــیمانــی د څنډې مـات تــوکـری
د ګـنـاهـونـو خــاطـرې یـــــادوي

ورکه مینه

تیاره کونجونه یې د رمزپه ژبه
اوس هم سینه کې ولولې پاروي

د دې کلا په هره خونه کې به
سپینې سینې چا لڅې کړی نه وي
د وحشی مینې په بېرحمه حملو
به یې غابنونه پرکښې کښلی نه وي

دلته به هم څه غټو بورو سترګو
د چا له سره عقل وړی نه وي
نازکو ګرمو پستو شونډو به هم
زړه او کوګل ورسوځولی نه وي

داوښتو رااوښتلو زګېروی
د چا احساس لېونی کړی نه دی؟

ورکه مینه

د لېوني هوس بې صبره پنجو
د چا ګرېوان هم ورڅیرلی نه دی؟

دلته به هم تاوده پاسته ورنونه
د چا په غېږکې لوبېدلی نه وی؟
سپوږمۍ به هم په غلي غلي راتلو
د خلکو پټې لځې کړی نه وي؟

د شهوتي توپان بدمسته څپو
د چا سینه طغیاني کړې نه ده؟
د غلا کتنې بېرندوکې مینه
یو وار ناڅاپه یاغي سوې نه ده؟

د ځوانۍ بنګ د ساقي سپینو لاسو
له لارې هم څوك اړولي نه دي؟

ورکه مېنه

چا چې خبرې د ګناه کولې
دوی‌په کټ کټ باندې خندلی‌نه دی؟

پر بېدو شونډو د مچکو چپاو
څوك لـه خوارہ خوبه ایستلی نه دي؟
د خوبه ډکې بېرېدلې سترګې
د هوس غېږې ته ورغلي نه دي؟

د دې کلا له هرې رنګې سره
د چا بېباکه هوسونه بنخ دي
د ویلی سویو سوځېدلو شمعو
په شاهدۍ باندې عشقونه بنخ دي

دې کنډواله کې ګناهونه کېدل
د ثوابونو ځنځیرونه شلېدل

ورکه مېنه

څو د جهانـــــه بې خبـــرو مســتو
د حسن ښارتـــه تــاړاکونــه وروړل

شيلـــه هغسې لابـــاړاسکي وهــي
تندر هغســي لا غـــړومبيږي ورتـه
د هېرو سويــو لحدونـــو تــرڅنګ
لا له هغسې زرغـــونيږي ورتـــه

خــو لـــه کلا څخه نغمې نـه راځــي
د پټې مينې زمـــزمې نـــه راځــي

کابـــل

۱۹۷۵/جون

زمـــان

د ژوندون بېړۍ لاهـــو ده
د زمان په تـوپـانـوکـــې
د مـرموز هدف پـر لـوري
پـه ناپايـه طغيانـو کې

د هستۍ پـه نـوم نيستي ده
د نيستۍ پـه نـوم هستېږي
نـابلـــده يې مـسير دی
تـکرونه خـوري تېرېـږي

هم وحشت لري پـه غـېږ کې
هـم پـر مينه مـين زړونـه

ورکه مينه

د افق خونريزه ژبه
د طلوع سپين پيغامونه

پکښې هر څه ناروا دي
پکښې هيڅ ناروا نه دي
څه بېړۍ څه يې سفر دی
دا پر کومه خوايې تله دي

څه ناپايه سفرونه
څه ناکامه کاروانونه
د جرس په ماته ژبه
د ژوندون بېده رازونه

څه غروب څه خوني ورانګې
څه آسمان څه تنورونه

ورکه مېنه

څه لـه اوره ډکـي وربـځـي
د انګار په زړه کـي غـرونـه

څـه د وينو ډکـه غـېـږه
څـه نـاترسـه سوغـاتـونه
څـه خـاموشـه جـلادۍ وه
څـه د قـهـر درمـندونـه

څـه مستۍ څـه مکـېزونـه
څه سـاقـي څـه ډك خـمونه
څـه ګناه څـه دوږخـونـه
څـه شـېـخان څـه عـذابـونه

څـه محشـر د عـشـوه ګـرو
څـه لـوځ سوي سـپين ورنـونه

ورکه مېنه

څـه غمزې څـه ځـوانـې مـیـنـې
د نــازونـــو چـــپـــاوونـــــه

څـــه بېبـــاکـــه هـــوســـونـه
څـه رټلـــې پـــاك عشقونــــــه
څــه ښایستې روښـانــه سـتـرګـې
څه کــاتــه څـه مست رمـزونـه

څـــه نـــیـــمـګـړي آرمـــانونـه
څــــه د اوښـکـو ســـېلاوونـــه
څــــه نـامراده د غــــم کـــــرږې
څـــــه بـــد بختـــه مـــنـزلـونه

د سیـــــنو پـــه قـــفســـچو کـې
خـــامـــوش سـوي امـیــدونــه

ورکه مینه

د لحد په زندانو کې
بیده سوي دي څه زړونه

څه حسنونه دلته ښخ سول
څه عشقونه تباه کېږي
څه ښایستې سترګې سوې پټې
څه د سوز اوښکې ورکېږي

څه زګېروي د چا له یاده
وچولی د زړه وینې
د چا سپینې ورځې توري
د چا توري شپې سوې سپینې

څه د شور پیمانه زړونه
څه له اوره ډکې وینې

ورکه مېنه

د احساس ژبې ګونګې سوې
چا سنګسار کړې پاکې مینې

څوك له رازه سره ښخ سول
چا نیمګړي څه ویلي
چا د اوښکو ډکې سترګې
یو وار شاته اړولي

څوك په هر څه باندې پوه سول
چالا هیڅ نه وه لیدلي
چالا څه شکوه کوله
څوك په ډکو زړونو تللي

څومره دلته خندېدلي
د نسیم د غېږ ګلونه
څه غنچې نیمه خوا سوي
څه خزان څه یې بادونه

ورکه مېنه

څومره سترګي قهرېدلي
څومره نورې سوی نمجني
څه لاسونو کړلي وراني
د آرزو د سوماپيني

څه مجنون دښتونه پی کړل
څه فرهاد سوري کړل غرونه
څه لاسونه ګناه کار سول
څومره وځورېدل زړونه

څه سکندر څه لېونتوب ؤ
څه سرکښه مست آسونه
څه تاړاك څه پايکوبي وه
څه د زغرو توپانونه

څه چنګيز څه ناتارونه

ورکه مینه

څــه وحــشــت سوي ښارونــه
د حســرت په کنډ والـــو کې
پـرې ســرونــه مــات هډونه

زمـــان هـر څـه ســره يــوړل
د آرامـــي نــړی خــولي نــه
د ژونـدون وروستـــي پـړاوتــه
د رازونـــو خـــزانــې تـــه

هلتــه هــرڅــه خــاورې کیږي
هلتــه هــیڅ شـکایت نـــستـه
هـلـتـه تـولــه ســره خــپـل دي
هـلـتـه هيــڅ مـلامـت نسـتـه

کابل - ۱۹۷۷/مارچ

شاعر

چې د وینې نرۍ سترګې
د تاریکې شپې کوربه سي
د ډیوې لمبه خاموشه
پرې تیاره ماښامیلمه سي

د ساقي په پیمانه کې
نیښتېځلی اور ختمېږي
د مستۍ له تاوده بزمه
چې خړوب حریف ستونېږي

د مینا په وروستۍ اوښکو
چې خمار زړونه او به سي
چې وروستۍ پیالې شرنګېږي
او د کوچ نغمه توده سي

ورکه مینه

چې جهان په پتهو سترګو
په خیالي تال کې زنګیږي
د خپسې توره غیږه
د رڼا پرسر خپریږي

تر یو لنډه مزلګي وروسته
قافله پر تمبدو سي
چې ایلچی د سبا راسي
او د نن جنازه یوسي

هلته لیرې په یو کونج کې
نو نری لمبه بلیږي
د هوس له ښکلی ښاره
یو پردېس پکښې اوسیږي

د قلم تر خوله راباسي
د خوږ من زړه فریادونه

ورکه مېنه

د سینې په قبرستان کې
ښخوي ځواني عشقونه

له ثوابه یې پر هېزدی
له ګناه توبه ګار سوی
هم زاهد ورته په قهر
هم له بزمه چاترټلی

کله روڼې روڼې اوښکې
پر نامراده ګرېوان توی کی
نړوي د ژوندون خونې
د قبرونو ښنختې بوی کی

په دې نرمو - نرمو ګوتو
نړوي د سکوت غرونه

ورکه مينه

د نازك احساس په تال کې
سوروي نوي سازونه

د رنګين افق په خوله کې
ورکوي د زړګي وينې
د شفق له مخه اخلي
د هوښيارې مستی پينې

د اله ځانه سره سوځي
په تياره کې چې ويلېږي
که شاعر نه دی، نو څوك دی
چې زګېروی يې رار سېږي

کابل

۱۹۷۷/ اپريل

پیر مغان

پیـرمـغـان د مـیـخـانـې په کـونج کې
پـرون مـیـخـوورتـه ورو ـ ورو، ویلـه:
دمستۍ جام یې وګـرېوان ته تـوی سـو
پاس یې د سترګو تـر کـونـجو کـتـلـه

جام د جمشېد، خم د سوماکه نـه وي
خو دا ویجاړه میکده خــو لـــــرو
سپینې سیــنې بنګ او نڅاکه نه وي
خواږه یـاران تـــوده نغمـــه خــو لـرو

کـــه دا زړې نغمـــې مـو نوې نه کړې
که دا ویجاړې مـــو آبـادې نـــه کړې

ورکه مېنه

کـــه د غــوټـيــو د سپړلو پـه نـــوم
خــزانـــي تندې مــو بـربادې نه کـــړې

نـو دا ويجــاړه ميکـــده بـــه نـــه وي
خــــواږه يــــاران تــوده نغمه بـه نه وي

کابل

۱۹۷۵-جون

زه شاهد وم

مابه لیده چې دباغوان په لاس غوټۍ زمولېږی
مابه لیده چې دساقي په لاس خمونه ړنګسول
زه د جامونو د لوټلو شاهد
زه د غوټیو د زمللو شاهد
د میکدې د ورانولو شاهد
ما د دې بڼ د بوټې - بوټې لانبېدل ولیده
ما به سپرلي کې دزاغانو پایکوبونه کتل
ما دنسیم په غېږ کې زېری دخزان اوریدی
ما د بلبلو څوانیمرګي نغمې
ماد ګلونو چپاوسوې وږمې
ما د پیمالو ارزوګانو زګېروي

ورکه مېنه

ماله وحشته رپېدلي زړونه ټول ولیدل
راوېښوئ مې ولې؟
راپاڅوئ مې ولې؟
دا رغوئ مې ولې؟

۞ ۞ ۞

ما به لیدل چې د زمان توپان وهلی بېړۍ
د ګردابونو طلاطم کې رنګه بنګه خوځي
د څپو غېږې ته ورځرمه سي ډوبېږي پکښې
د جاله وان له نامردیه څخه
د دې ظالم له بېباکیه څخه
بېړۍ له پرښو سره وجنګېږي
د غرقېدو له وېرې ټوله بېړۍ وال چیغې کړي
څوك د بېړۍ تیاره کونجونو ته له وهمه ځغلي
مال او اولاد هېروي
د ډېوې څنګ ته له قاه قاه سره غابنونه برېښي

دا جاله وان دی ظالم
زه یې خندا پېژنم
د دې لېوه سره پخوا هم څه آشنا غوندې وم
ماهرڅه ولیده، خو هیڅ مې لاویلي نه دي
زه د بېړۍ د ډوبولو شاهد
زه د توپان د خوځېدلو شاهد
ماله آرام ساحله تېښته لیده
زه په لوی لاس د غرقېدلو شاهد
را وینښوئ مې ولې؟
را پاڅوئ مې ولې؟
دا رغوئ مې ولې؟

۞ ۞ ۞

ما به لیده چې د غوغا د چوپېدو د پاره
سپیني آبدارې تورې څه په بې آبۍ سرې کېږي
تر یو څو سووکړو ورو سته څه کمزورې چیغه

ورکه مېنه

وروستي نفس د زولنو په شرنګهار کې ورک کي
یو لا لهانده زړه آرام غوندې سي
یوه سینه د هدیرې په رسم
یوه کوچنوټې قفسچه کې هلته
یو لوی جهان لره مکان پیداکې
یوه نرۍ شاني لمبه تورې تیارې ته درومي
دا بدي سکوت په غېږ کې حرکت ډوبېږي
څوك د ژوندي مرګ په ارزو د ګولۍ لارې څاري
څوك بیاد مړه ژوندون بقأته له ایمان تېر سول
زه د زګېروي د چوپولو شاهد
زه د ترټلو د لوټلو شاهد
ماتا ړاکونه چپاوونه لیدل
زه د سرو څاڅکو تویولو شاهد
را ویښوئ مې ولې؟
را پاڅوئ مې ولې؟

ورکه مېنه

دا ږغوئ مې ولې؟

مابه لیده چې د جلاد په وینو سرو منګولو
ما به لیده چې دلېوانو د خیرلو وهم
خلك د ورورپرجنازه نخول
خلك په ډکو ستونو وخندول
ما به لیده چې څوك د میني د لرلو په تور
ولې سنګسارسو، ولې ټولو ګناه کار وباله
ما به لیده چې خلکو لوی- لوی ګناهونه ستایل
هرچا چې ښې منګولې سرې کړی قهرمان قبول سو
دلته قاتل قضاته نه کښېږي
دلته چې سر وهي سردار یې بولي
دلته د سرو لاسوپه نوم عبادتونه کېږي
سجده هغو ته ده چې زړونه یې سینو کې نسته
زه بې ګناه ګناهکاران پېژنم

ورکه مېنه

ما ګناهکاره جنتیان ولیدل
زه د پایکوب د سرکوبونو شاهد
زه د قاتل د سرو لاسونو شاهد
چاد منبر پر سر ګناه ستایله
خود ثواب د سنګسارونو شاهد
څوك چې زرګونه قتلوي خلك بیعت ورکوي
هغه چې ویني پاکوي، هغه دوږخ ته درومي
د ګناهونو د تمیز پر میدان
د دې نړۍ د عدالت شاهد یم
راویښنوئ مې ولې ؟
راپاڅوئ مې ولې ؟
دا ږغوئ مې ولې ؟

❁ ❁ ❁

پرېږدئ چې هرڅه په سینه کې ولحد ته یوسم
د شعر ژبه مې ګونګۍ ښه ده پرې سوې ښه ده

ورکه مېنه

په سترګو وينم خو چې نه يم ګرېدلی بنه دی
دلته ليدل او کول بنه دي څه ويل کفر دی
په رڼو سترګو ژوندي ډېر اوسېږي
خو څوك چې ژبه لری سر نه لري
دلته لاسونه پرېکېدل ژبې يې هم غوڅې کړې
خو سترګورو هرڅه وليده ګونګي پاته سوه
زړه ته مې نه لوېږي چې زما د ژبې دوه بخري
د کلو پوړندې تازه کي انګارونه جوړکي
زه د انګار خاموشول نه غواړم
خو د چااور هم بلولای نسم
څوك له بخري د اور طمع لري
زه يې سکروټې لرم ځان په سوزم
پرېږدئ چې وسوځېږم
پرېږدئ چې وکړېږم
چېرته به زه هم د ويلوپه تور

ورکه مینه

د دې لیدنو د ویلو په تور
د ژبورو په دود خپله سزاګۍ وینم
زما په مرئ باندې به هم د چامنګولې سرې سي
راویښوئ مې ولې ؟
راپاڅوئ مې ولې ؟
دا رغوئ مې ولې ؟

کابل

۱۹۷۷ - سپتمبر

زه به شهید یم

ګراني یسو ورځ به مې د قبر سرته وینې ژاړې
زه به شهید یم رشتیاسوي به وي تول خوبونه
راته زنګېږې به د فکر په دریاب کې لاهو
او دریادېږي به نامراده د ځوانی خیالونه

ما د واده په شپه لاغاړې درته خلاصې کړلې
ماویل لنډ دي زمونږ د مینې او خوښی مزلونه
زه د ناپایه جنګ لښکر ته برتې سوی یمه
زه د ګولی لارې څارمه، ګولی زما ګامونه

درته یادېږي هغه زمونږ دکلي ښکلې ناوې
چې د رستم شهید پر قبر باندې وغورېده

ورکه مېنه

لا يې لاسونــه پــه نكـريـزو لا يې تلي سرې وې
چې بيادبخت لـه بيـده ټالــه څخــه وغورځېده

درته يــادېږي هغــه بلــه ببـر ســرې كونـــډه
چې لېونــى غــوندې به ګـرځېده په كلي كـلي
هغـه يكړ مجاهد زوى يې چې په بم کې والوت
چې غبـرګې لوښې يــې اورونــو دنيـپام سوځلي

زه بـه هم نــن وي كــه سـباوي ديـارانــوسـره
دابدي سكـون پــه غيبږ كـې زنګـيـدلى يمــه
مابه هـم يادكـي يو څو ورځې دمورچل ملګري
نــوربــه يوازې ســتاپر شونډو اوسېدلى يمه

ګراني زمـا زوى بـه پــه لــمبه دانتقام لويوې
ورتــه بــه وايې چـې روسانـو دې دى پلار وژلى

ورکه مېنه

په الاهو بـه یـې تـازه کـې د غـضب اورونـه
څو چې دوږخ کې غلـیمانـو لـره کـوراو کلی

د ابـا قبرتـه یې راولـه خالـپوڅـو لـره
او هره شپه ورتـه کوه د ګوډ غـازي"۱" نکلونه
چې بـې وطـنه بلـه هیـڅ لیلاو نـه پېـژني
دوینو ځاځکو ته یې ورکـه میـوندي اورونـه

زمادزوی نوم به یا "شېرشاه"یا"خوشالخان"راایږدی
په غوږکې ورکه د"مېرویس" او"احمدشاه"نومونه
چې زما لـه مسـته کندهـاره بې خبره نـه سي
سنګر،سنګريې هره لویـشت په وینو سره دښتونه

ګرانـې یـو ورځ بـه مې د قبر سرته ویـنې ژاړې
زه بـه شهید یم رشتیاسوي بـه وي ټول خوبونه

ورکه مېنه

راته زنګيرېږي به د فکر په درياب کې لاهو
او دريادېرېږي به نامراده د ځوانۍ خيالونه

کوئټه

۱۹۸۸/۱۰/۱۱

---

(۱) ګوړ غازي د کندهار هغه قهرمان مجاهد او پهلوان شهيد دی چې په کندهار کې داسې غوړ نسته چې د نوموړي له نوم او کارنامو سره اشنانه وی.

ژوند

ژوند تلاش دی پر مخ تلـــه دی
حــرکـــت دی، خـــوځــېـده دي
د تيـــارو روښـــانــــــــول دي
ســوځـــــيـــده دي ويـلـېده دي

د هستـۍ پـــه مســـته غېږ کـې
د نــېـسـتيـو هـــېـــــرول دي
لـه ساړه ســاحـلــــه تېښـتـه
پـــه تـــوپـــان کــې اوسېــدل دي

د ژونـدي تـلاش پـــه لار کـــې
ژونـــدۍ غـــاړې نــــــذرول دي

ورکه مینه

هرخه - هرخه پریبنودل دي
له سکوته راوتل دي

نه نشه ده نه خمار دی
نه خمونه تشول دي
لحدونه رنگول دي
د محشر بربا کول دي

کابل

۱۹۷۹-جولای

اوښکې

څه تودې تروې اوبه دي
د ګرېوان په لور بهېږي
ابدي سکون ته درومي
له ژوندی سترګې بېلېږي

له هر څاڅکي سره مله وي
د مرموز جهان رېغونه
پر آشنا لارو وراخلي
نابلده قدمونه

د کمزورې دنیا ژبه
د قدرت پښو ته ورلوېږي

ورکه مینه

د احساس بیده نغمه ده
په بانو ږغول کیږي

دا شریکه ګونګی ژبه
هري سترګي ته آشنا ده
دا د هري میني کور دی
دا د هر نفرت غوغا ده

کابل

۱۹۷۹-جولای

ښکلا

چې په زړه د طبعت کې
هنګامه د عشق برپا سي
د قدرت د ناز له بحره
د هنر قطره جلا سي

چې د حسن د بت ګوتې
د اعجاز بربط آغاز کې
زمزمه سي، ترانه سي
اشکاره د جنون راز کی

چې د رباب د خلقتونو
د احسان پر څپو راسي

ورکه مېنه

په موجونو ګردابو کې
د تحسين ځاځکي پيدا سي

دا شعر سومنات دی
دا کعبه ده د خيالونو
دا بنايست دی دا بنکلا ده
دا سروش د هنرونو

کابل

۱۹۷۹/سپتمبر

مرګ

د سکون په ورکه غېږ کې
د مستیو ډوبېده دي
د عدم پر تیاره لاره
د هستیو ورکېده دي

د کاروان په هر رباط کې
مسافر له پښو پاتېږي
دا نیمګړي سفرونه
بې ثمره شان ختمېږي

څوك د څمکی زړی کېږي
څوك په اورکې سوځل کېږي

ورکه مېنه

ځوك پــه مرګ ژونـدي پـاتېـږي
ځوك پـه ژونـد له چـــا هېرېږی

د زمـــان اژدهـــــــا وخـــوري
يــو لـــړی د حـــوادثـــــو
د لحـد پــه نــامــه پـرې کــي
يــو ډولـــــی د حـــواد ثـــو

کابل
۱۹۸۰/مارچ

زما شعر

د زمان په هېرو شپو کې
يوه ورکه حادثه ده
د هستۍ په دريابو کې
يوه تېرې زمزمه ده

د خمارې مستۍ خروښ دی
د مستۍ د خمار شپه ده
يو ګونګی شانې فرياد دی
يو خاموشه ترانه ده

ورکه مینه

یو ترټلی اسویلی دی
یو ځپلې خاطره ده
د جنون د اوښکو لاړدی
د باکوس د خم څپه ده

خزانې سرکوب وهلې
ځوانیمرګه هنګامه ده
د یو لیرې جرس ږغ دی
نا آشنا غوندې نغمه ده

د مړ ژواندې لمبې کور دی
د بې سازه نغمې شور دی
د شهباز د ماتم رقص
د نیمګړې اوښکی اور دی

ورکه مېنه

د ژوندون پر بېدو کربنو
یو کاروان دی د خیالونو
د شاهد په خوله داستان دی
د ژوندیو تاراجونو

کابل،

۱۹۷۹/سپتمبر

پښېمانه به سي

ګوره ښايستي نجلۍ پښېمانه به سي
خوله تر قيامته څوك خولګۍ نه بولي
دا بې انصافه، دا هېرجن خريدار
پرونۍ ښکلې ناوکۍ نه بولي

څوك يې واونګوته هم نه ورګوري
هغه کتو کې چې رمزونه نه وي
ځاى يې د شعر په څپو کې نسته
چې د ځوانۍ پکښې موجونه نه وي

کله چې واوري د زمان پر ګوتو
دا د سېليو په شان تېز کلونه

ورکه مېنه

کله چې وغورېږي نوې ځوانۍ
او تا ته پاتې سي خالي نکلونه

نور به دې اوښکې مرغلرې نه وي
ناز به دې هم څوك توسولای نه سي
د تودې غېږې ګرمه مينه به دې
د چا اورونه سړولای نه سي

پر سورکۍ شونډو به دې ورك تبسُم
زاړه دردونه هېرولای نه سي
د باڼو غشي به دې پڅ وي هلته
د خلکو زړونه به پيلای نه سي

پر سپينه غاړه به دې تورې څوڼې
راتاوېدلای زنګېدلای نه سي

ورکه مېنه

د ناڅاپي کتو يادونه به دي
د چا خوبونه ويښولای نه سي

ستا به هم زماپه شان ځواني تېره سي
ستا به هم ما غونډې مستي هېره سي
ته به هم ياد کې د ځوانۍ خوبونه
په ژوندانه به دې هستي هېره سي

ګوره ښايستې نجلۍ پښېمانه به سې
خوله تر قيامته څوك خولګۍ نه بولي
دا بې انصافه، دا هېرجن خريدار
پرونۍ ښکلې ناوکۍ نه بولي

کابل

۱۹۸۰/نومبر

بغاوت

سوځوئ د مینې نښې
هېروئ پردې یادونه
رنګوئ د تقوا خونې
ماتوئ د اور خمونه

رندوئ د زاهد سترګې
ورخراب کئ خلوتونه
پرېکوئ د ساقي ګوتې
چې ونه ویشي جامونه

څخوئ مالګینې اوښکې
لمدوئ د ګرېوان لارې
د ژوندون په رمزچې پوه وي
په هستۍ کې نیستۍ څاري

ورکه مېنه

بنخوئ سر کښېي هيلي
سوځوئ د اميد پلونه
ماتوئ دْ شيطان د اړي
ورانوئ د زاهد خونه

د نړۍ له رنګه تښتئ
په دې رنګ کې دو رنګي ده
اهريمن زيتون په لاس دی
دعدن نګهباني ده

د زقوم د زهرو څاڅکي
د سوما له بوتو څاڅي
نامردي نه ده نو څه ده
په ډك خم کې خمار ناڅي

ورکه مېنه

خرقه پوش ساقي سنګسار سو
د مینوش زاهد په کور کې
د ګناه سکروټې سوځي
د پرهېز په ساړه اور کې

ځئ ژوندي کفن په ځان کئ
د هستۍ له غوغا تښتئ
د دوږخ لمبو ته ورکئ
دریاً لستوڼي سکښتۍ

دا د پټې مینې شور دی
دا د لږې ګناه زور دی
دا د رنګی آروز رقص
دا د تونډو اوښکو اور دی

ورکه مینه

دا بې رقصه پایکوبي ده
دا بې چیغو بغاوت دی
دا بې میو بد مستي ده
بې کتابه عبادت دی

دا د عقل لیونتوب دی
دا د بنګو هوښیاري ده
د ژوندون جنازه اخلي
په کفن کې بد مستي ده

دا د زړه په غورو واورئ
د مغان د پیر وصیت دی
نن يې نوی خښته کېږدئ
که څه دېر دی که خلوت دی

کابل - ۱۹۷۷/جولای

بیده خیالونه

هېر که آشنا بیده خیالو نه هېر که
هېرکه آشنا داویښ خوبونه هېر که
هغې چې رنګی سولې ښخې سولې
د هغو هیلو لحدونه هېر که

خدای‌دی که ترنګ مې له ربابه وځي
زړه مستي مې په نغمه کې نسته
خندا بیده سوه اوښکې ویښې سولې
دځوانۍجوش مې په سینه کې نسته

هغه چې وزمولېدې ورژېدې
هغه غوټۍ د یادولو نه دي

ورکه مېنه

هغه چې زړونه رغولای نه سي
هغه نغمې د رېغولو نه دي

زه د خر مستو د سرکوب نیمه خوا
ته رانه اوس هم پایکوبونه غواړې
زه په ژوندوني ځوانیمرګ سوم دلته
ته مې په وینو کې اورونه غواړې

زه سره ابلیس پر مخ وهلی یمه
زما څخه هېر سول فردوسي یادونه
زما څخه مه غواړه تاوده رګونه
زما څخه مه غواړه یاغي خیالونه

کراچۍ

۱۹۸۱/نومبر

زما خزان

ښکلو منم د زړونو ښکار ته وځئ
خو زما زړه د ښکارولو نه دی
ولاړه مستي،ولاړه ځواني تېره سوه
نور مې احساس د پارېدلو نه دی

تاسې به غواړئ زما په مړه سینه کې
مینه ژوندۍ کړۍ پکې شور پیدا کړۍ
غواړئ چې زما په دې ساړه نغري کې
سکروټې ولټوئ اور پیدا کړۍ

غواړئ چې زه هم د زلمیو غوندې
درسره ونځېږم وخندېږم

ورکه مینه

غـواړئ دا مـات زړګـی مـې وپـاروئ
درســره ومســـــــیږم و ګـلـېږم

زما له ربـاب څخه مستي مـه غـواړئ
زما پـه ترنګ کې د خــزان افسانـه
زه د امــان لـه ښـاره و کــوچیدم
زمـا هره اوښـکـه د توپان اندېښنـه

زمـا د ربـاب تـارونـه وینـــې ژاړي
زمـا لـه شـهبازه څخـه اوښـکـې اوري
زما په نغمه کې د مرګی زګېروی دی
زمـا پـر بستر د لـحد سیوری ښـوري

زه نـابـلـده زه لار ورکـی کـــوچی
دي کـرېلیچو نـومـې څواني ورکه کړه

ورکه مینه

زه د څو ورکو خاطرو نکلچي
په دې تیارو کې مې هستي ورکه کړه

نور د پاولیو شرنګهاري سره
خېرن لستوڼي غورځولای نه سم
د مرګ غبار مې ژوندی لمر پټ کړی
پر ځنګدن یم نڅېدلای نه سم

ښکلو منم د زړونو ښکار ته وځئ
خو زما زړه د ښکارولونه دی
ولاړه مستي ولاړه ځواني تېره سوه
نور مې احساس د پارېدلو نه دی

کابل

۱۹۸۰/سپتمبر

د سیند لور

یه د سیند لورې غنم رنګې نجلۍ!
مړ ژواندی زړه مې تخنولای نه سي
زه خو دسپینو انګو مین یم
ته مې احساس راویښولای نه سي

نه دې پر لنډه زنه خال وهلی
نه دې په غاړه امیلونه ښکاري
نه دې خیرې په نکریزو ښکلې
نه دې په پښو کې پایزیبونه ښکاري

نه دې پرشونډو لیونی تبسم
نه دې په سترګو کې رمزونه وینم

ورکه مینه

نه د نخرو ښخه کړه وره وره سوي
نه دې د زړکي قدمونه وینم

ته به ښایسته یې لګولي دې دې
د چاد میني لیوني اورونه
خو زه د غرونو د هوسیو مین
زما یادیږي پښتني نازونه

زه پښتني غیرې لوی کړی یمه
زه پښتني میني روزلی یمه
زه سپینو غیږو تمه لویدلی یمه
زه سپینو لیچو زنګولی یمه

کراچی

۱۹۸۱/نومبر

هېره مستي

مه یادوه تېرې پخوانۍ کیسې
مه یادوه ماته د ځوانۍ کیسې
هېرې د مستۍ کیسې
هېرې مې کړې هېرې سوې
ماچې بېدولې د مستۍ نشې
ما چې وېښاوه خمار په زړونو کې
زه چې د هر بنګ سره همراز ومه
زه چې د هر ترنګ سره شهباز ومه
زه چې د هر شرنګ د سور آغاز ومه
زه چې ورکېدمه د بنکلا سره
زه چې ډوبېدم په ورکو غېږو کې
هېرې مې کړې هېرې سوې
هېرې سولې تېرې سوې
مه یادوه تېرې پخوانۍ کیسې

ورکه مېنه

مه یادوه ماته د ځوانۍ کیسې
هېرې د مستۍ کیسې
هېرې مې کړې هېرې سوې
* * *
زما د سر نوشت په تورو لارو کې
نسته یوه تته د امید لمبه
ورك یمه،
لاهو یمه!
مه سوځوه ما په دې یادونو کې
مه ډوبوه ما پر دې خیالونو کې
مه مې توسوه په سرابونو کې
پرېږده چې یوازې یم
وسوځم ایره سمه
وخوري د تیارې ښامار
زما د ژوند وروستۍ ورانګې

ورکه مېنه

پرېښوده د ګمنامي نېکمرغۍ کيسي
مه يادوه ماته د ځوانۍ کيسي
هېري د مستۍ کيسي
هېري مي کړې هېري سوې
پوه سوم چي دا زما د ژوند وروستی غروب
بله طلوع نه لري
لېري د خونخوار افق په غېږه کي
مه ښايه و ماته د اميد کرښي
يو وار تېر وتلی يم
ژوند خطا ايستلی يم
غېږ کي د شنو پاڼو يې زموللی يم
نور مي پرهارونه د کتو نه دي
نور مي اسويلي د اورېدو نه دي
خپله آشيانه مي سوځولې ده
خپله مي ببړۍ توپاني کړېده

ورکه مېنه

ځان مې د ساحل له آرامۍ څخه
وغور ځاوه لېرى توپانونو کې
ګېر سوم په بې رحمو ګردابونو کې
پرېږده، د زمان نهنګ
پرېږده، دا ظالم صیاد
ورکې کړې د زامې په خرپې کې
زما وروستۍ سلګۍ
نور د جوړېدو نه يم
نور د رغېدو نه يم
مه راکوه ماته سُرابي زېرى
مه يادوه تېرې پخوانۍ کيسې
مه يادوه ماته د ځوانۍ کيسې
هېرې د مستۍ کيسې
هېرې مې کړې، هېرې سوې

کراچی - ۱۹۸۱/نومبر

زما کندهاره!

زما کندهاره د زمرو وطنه!
زما د سرکښو پښتنو وطنه!
څو نه یاغي یې صدقه دې سمه
د نافرمانو جنګیالو وطنه!

بیا دې ترنك توپانی سوی وینم
بیا دې ارغند په مستېدو راغلی
بیا ارغسان دې بیا موچونه وهي
بیا دې هلمند په خروښېدو راغلی

بیا د زړې تورې د خرپ یادونه
بیا دې په سترګو کې اورونه وینم

ورکه مېنه

بیا د "ایوب" سره لښکرې راغلی
بیا د رېدیو داستانونه وینم

لکه چې بیا دې څه یرغل نیت دی
لکه چې بیا دې غورېدو په زړه سو
لکه چې بیا دې څه په زړه کې ګرځي
لکه چې بیا دې خوځېدوته زړه سو

زما کندهاره! د زمرو وطنه!
زما د سرکښو پښتنو وطنه!
څونه یاغي یې صدقه دې سمه
د نافرمانو جنګیالو وطنه!

ستا د پایلوچو تر بګړیو واری
ستا د تېرو تېغونو جنګ وګرځم

ورکه مېنه

ستا له غرور څخه کاږه تګونه
ستا قهر ورکړئم ستانګ وکړئم

بیا د "ملالۍ" میوندۍ خرخښه
بیا "توریپکۍ" د فرنګ خو نه سوځي
بیا د بابا د پاني پت هنګامه
بیا "شاه محمود" اصفهانونه سوځي

بیا د "ګرګین" پرکور مرګی مېلمه دی
بیا د "میرویس" په نامه وغورېدي
بیا د "اشرف" د انتقام لمبه ده
بیا دې د قهر ویني وخوځېدي

بیا دي لمن د شهیدانو ډکه
بیا د کوچني غازي زانګو زنګوي

ورکه مېنه

بیا دې په وریځو کې سېلونه ګرځي
بیا دې په غېږ کې زلزلې ویښوي

زما کندهاره د زمرو وطنه!
زما د سرکښو پښتنو وطنه!
څو نه یاغي یې صدقه دې سمه
د نافرمانو جنګیالو وطنه!

کراچۍ
۱۹۸۱/ډسمبر

د هستۍ قبر

دا دی راغلل د خزان بادونه ورو-ورو
رژوي مې د ځوانۍ ګلونه ورو-ورو

خود آګاه دخاموشۍ غېږې ته درومي
چې غوغا ته تخنېدل رګونه ورو-ورو

دمرګي قاصد مې غم دمستۍ غواړي
راته ښيي د لحد خوبونه ورو -ورو

چې يې څاڅکی د کوثره سره سيال ؤ
زماني غليم يې وړي خُمونه ورو-ورو

ورکه مینه

نن د هوښ له دوږخي سینـــې راوځي
مدهوشۍچې پاڅول خیالونه ورو-ورو

چې ژوندی وه هر نفس پـه نوې هیله
له هغې سینې راځي دودونه ورو-ورو

پر ډیوه مې د تیارې پرتـم راپـرېـووت
پکې اورم د مـــاتم ږغـونه ورو - ورو

لـکه هېره دزاړه قــبر جـنـډې ســي
هسې هېرسول دمستۍیادونه ورو-ورو

سرنوشت مې غوړولی دمرګ تور دی
پکې شمېرم دهستۍ قبرونه ورو-ورو

کراچی - ۱۹۸۲/جون

پردی انګړ

ساقي نن مې په پياله کې جوهر نسته
په ترخو اوبو کې بوی د کوثر نسته

چې د شيخ د سر جنده يې نخوله
برني تازه اورونه محشر نسته

چې توبه يې په طواف کې ماتوله
د هغه انګاري ځاځکی شرر نسته

چې کوګل داوړدو شپو وربانديې رون ؤ
د هغه يلدا په زړه کې قمر نسته

ورکه مېنه

یا مې بڼ د ځوانۍ لابښ د خزان لاس کړ
یا د تاك په افسانه کې اثر نسته

یا دې نه دی نیښتېځلي سره بخري
یا په غرپ کې د سکروتو ګذر نسته

پوه سوم- پوه سوم ستا لاسونه کوثري دي
چا ویل چې ستا په خم کې ګوهر نسته

خو مستي وه،که هستي دواړې پردۍسوې
د پردیو په انګړ کې اختر نسته

پېښور
۱۹۸۲/۳/۲۱

ایښ سالاري

ډېر ښکلوا دي واقع سوي د انکلو نه
دي کيسه باندې اوښتي دي قرنونه

اوسېد له څو لېوان يوه ځنګله کې
ځيرول به يې ځاروي ضعيف ښکارونه

ښخولي يې په نرمو غوښو داړې
راايستل يې له ژونديو سينو زړونه

ورکه مېنه

ګرځېدلای په ځنګله کې چېرته نه سوای
که هوسۍ وې که مرغومي که پسونه

خو هر ګوره مروروه یو له بله
پیښېدل به همېشه پکښې جنګونه

یو د بل د مرګ په طمعه ګرځېدله
لکه مړي سره وکاندي تربرونه

یوه ورځ د ایر په کور کې سره ټول سول
څو لېوان کاږه منګول تېره غابنونه

د ګیدړ په مشوره سره پخلا سول
سره هېر یې کړل زاړه عداوتونه

ورکه مېنه

پـــه هوس ويشـل کېدلي د ښــکار غوښې
لــه مــړوګـېـــدو راووتـــــل تـېـغـونـــــه

هـم منــګولي هـم يې ډکې دواړې زامـې
د چـا غوړې سوې سرې مې د چـا بـرېتـونـه

د خوښيو، خوشاليــو پـــه مـجــلس کـــې
ايـر ولاړ ســو ښورول يـــې بـوڅ غـورونه

وې: مـلګرو! راولاړ سئ غېرت پـه غيرت ســئ
رانـېـږدې سئ ســره ورکـــانـدئ لاسـونـه

لـکـــه ورونـــه يــو لـه بلـه سـره خپل سئ
نـور ايـــره کئ د نـــفاق ظــالـــم اورونـه

ورکه مېنه

هر لېوه چې د ایږ غېږې ته نېژدې سو
ایږ یې تاو کړل پر سینه خپل مړوندونه

په کښې کښوبه یې ورمات کړله هډوکي
له سینې به یې را وختل آهونه

هر لېوه سر په خېړو په زګېروی سو
تېرول به یې په پټه خپل دردونه

وروسته ایږ ویل ملګرو کار تمام دی
اوس په کار دی مشر ورور پاخه فکرونه

د مجلس له کونجه ږغ وکړ ګیدړې
سیال دې نسته در خالي سول میدانونه

ورکه مېنه

مــبارك دي مشـرتـوب او پــاچـهي سه
زموږ دي مات کړل دشمزيو ټينګ هډونه

ته د تخـت پـه نـــوم نـازېږه هـوسېږه!
مـوږ تـه جـوړ سول په ژوندوني لحدونـه

که زموږخوښه وي که نه وي ته سلطان يې
چلـوه پـر هــديــره بـانـدې حـکـمونه

پېښور

۱۹۸۲/۵/۱۸

لېونتوب

راســـه مـــات کــړه لـېونـتوبـه دا د عـقل تدبیرونه
د عــدن لــه بـــاغـه وځم را نصــیب کــه دوږخـونـه

چـــې د هــوښ قــالب ته لوېـږي دآدم دعدم خښتې
راته ښیـه د نیستۍ لارې چې هستي ده له جـنـونه

چې د عـقل تـرازو دی د ښـکلا د نیستۍ فـکـر
خدایه مـه کړې را پـه بـرخـه دا بدرنګه تدبـیرونـه

چې ریـأ پکښې سوځـېږي چې پرهېزپکې ایره سي
هـغـه سـوی لـړمـون غـوارم هغـه سـوځـنده اورونه

ورکه مینه

چې تقوا پکې لمبه سي،چې توبه په پکښې بيده سي
پـه ازل کـې مــې آزاد کـه د هوښيارولــه قانونـه

چې خوښي پکښې ژړېږي چې خندېږي پکښې اوښکی
چې حيات پکښې بيدېږي، چې ويښېږي تابوتونه

چې ځواني پکښې رژېږي،چې خزان پکښې غوړېږی
نــا اشنــا سـفر کـومــــه نـــابلده ربـــاطـونــــه

چې داستان مې پکښې ورك سي دژوندون دښواوبدو
پـی کـومـه هغه لارې د مجنون بيا بـاني پلـونه

پېښور

۱۰/۱/اکتوبر/۱۹۸۲

تنکۍ غوټۍ

ښایستې نجلۍ د سرو ګلونو ګېډۍ
ته لا وړه یې لویه سوې نه یې
ستا د ښکلا پردې لا څیرې نه دي
ته لا غوټۍ یې سپړېدلې نه یې

تا لا د سوې مینې سره اوروُنه
د چا کوګل کې لګولي نه دي
ستا د نازونو د انکار کرشمو
د خلکو هیلې زوکلولي نه دي

په رېږدېدلې په تبجنه ژبه
چا خپله طمع درښودلې نه ده

ورکه مېنه

په لومړی ځل دې په تیاره سینه کې
د مینې شمع لګېدلې نه ده

تا تر بانهو لاندې په مړو کتلو
د څا خوبونه کوچولي نه دي
ستا د راتلو د انتظار ثانیې
چا لېونو غوندې شمېرلې نه دي

ته لا د شمعې ونړۍ وړانګو ته
کرار کرار د لوڅېدلونه یې
ته لا په غېږ کې ډوبېدلای نه سې
د لوبېدلو د زبېښلو نه یې

ستا کرشمو لا ستا خوبجنې سترګې
د چا پر لوري اړولې نه دي

ورکه مینه

په نیمو شپو کې دې بیده تبسم
د خلکو وینې سوځولې نه دي

ښایستې نجلۍ د سرو ګلونو ګېډۍ
ته لا وره یې لویه سوې نه یې
ستا د ښکلا پردې لا څیرې نه دي
ته لا غوټۍ یې سپړېدلې نه یې

ته به هم لویه سې د طمع به سې
ستا د سینې غوټۍ به وسپړېږي
د وینو شپو د تېرولو به سې
ستا د ښکلا پردې به وڅیرېږي

پر نرۍ شونډو به دې مچې اوري
سترې خولګۍ به خو ځولای نه سي

ورکه مېنه

مــرمـوز بخري بــه دې زړه ته توی سي
روح بـه له اوره خـلاصــولای نــه سـې

د ســـورکـی شـونـډو پـه اورونو بـه دې
د چـا بـنه زړه کـې ویـنـې وسـوځـېږي
د شـرم لاس بـه کـړې له سترګـو لـېرې
وریـښـمـینـه غـبږه بـه دې وغـوړیـږي

د پـټ انـګار د سرېـدو پـه خـاطر
بــه درنـــه هېر سـي د ګناه یـادونـه
نـازك زړګـی بــه دې تـوپـونه وهـي
دربـانـدې ګـرځي بــه پـردي لاسونـه

تـه بـه هنم کـله د مـاشـومـو په څېر
په تودو اوښـکـو کې مسکی سې چېـرته

ورکه مینه

لوخه به لوېږې د هوس مخې ته
له خپله ځانه به پردی سې چېرته

تا به هم وسوځي د مینې لمبې
ته به هم یادکې بېګانه نومونه
ته به هم ډېرې تورې شپې کړې روڼې
او ستا په یاد به سي حرام خوبونه

بنایستې نجلۍ د سرو ګلونو ګېډۍ
ته لا وړه یې لویه سوې نه یې
ستا د بنګلا پردې لاځیرې نه دي
ته لا غوټۍ یې سپرېدلې نه یې

پیښور

۱۹۸۳/۱/۱۹

بېګانه

د نا اشنا ستورګی ګونګې اوښکه یم
رغړم ځلېږمه ورکېږم چېرته
لکه د هېرو کیسو ورك نومونه
له زړونو وځمه هېرېږم چېرته

د یوه لېرې غره د تیږو تر منځ
یوه غوټۍ یم غوړېدلې یمه
نه د اوربل نه د ګرېوان په طمع
نه د چا سترګو پېژندلې یمه

زه د هستۍ د کهکشان پر لمن
نا پېژندلی نا لیدلی ستوری

ورکه مېنه

د يــوې لــېــرې نــابــلــــــدې درې
پــر يــوه پــاڼ بـــاندې لوېدلی سيوری

زه د حيات د آســـمـانـونو ځـاځـکـی
ژونـدی دريـاب تـــه رالـــوېدلی يمـه
يـوې څـپــې يـــوه لـحـظــه اخيستی
وروســــته لــه ځـانـه پردی سوی يـمـه

د پردي سيل ســره الوتـــــی مـــرغــه
د بــــل پــه خــوښــه وزرونـه وهــــم
د سوز نــارې مـــې بېګانــه دي دلتـه
ځکه پرخـولـه بـــانــدې مـهـرونه وهــم

زه يــو کـيســـه د لـــېـونـــي پـــر ژبـه
د چـا غـــورو تـــه رسـيـدلـې يـــمـه

ورکه مینه

چـــامـــي پـرلـوري راکـتــلـي نـــه دي
چا لــه نــاکـــامـــه اوريـدلــي يـمــه

د نـاآشنا سـتـرګـی ګـونګی اوښکه یم
رغـــړم، ځـلیږمـــه ورکـیږم چـیـــرتـه
لکــــه د هـیـرو کـیسـو ورك نـــومونه
لـه زړونــــو وځـمــــه هـیـریـږم چیرتــه

دنمار

۱۹۸۳/۵

مه پوښته نسیمه!

مه پوښته نسیمه،زما د غرونو څوکې مه پوښته
تیرې یې درد منې دي
مه ښوروه ونې، د ګل بوټو څخه لېرې سه!
څانګې یې خوږ منې دي
ته به دغوټیو سپړېدلو ته راغلی یې
ته دارغوان ومچولوته راغلی یې
ته دنسترن وبویولوته راغلی‌یې
ته به د شاعر زړه تخنولوته راغلی‌یې
نه، نه تېروتلی یې
ته، نه غولېدلی یې
داهغه چمن نه دی

ورکه مېنه

داهغه وطن نه دی
داهغه گلشن نه دی
بڼ نه دی، ځُتن نه دی
دلته لېونتوب توپاني سویدی
دلته کې وحشت لیونی‌سویدی
دلته اهریمن راپرېوتلی‌دی
دلته جنازې دي ،هدیرې دی،لحدونه دي
ساندې دي، مرگونه دي
هېرې دي له خلکو،که مستی‌دي که نازونه دي
اوښکې دي، غمونه دي
گروېې کنډوالې دي،لېونتوب سوي ښارونه دي
ډزې دي، توپونه دي
بم دی، تنوزونه دي
اور دی، دو ړخونه دي
آخ دی فریادونه دي

ورکه مبنه

چیغې دي، وحشت دی،ورکې میندېاولادونه دي
وینې دي، اورونه دي
مه پوښته نسیمه،زمادغرونوځوکې مه پوښته
تیږي یې دردمنې دي
مه ښوروه ونې، د ګل بوټو څخه لېرې سه!
څانګې یې خوږ منې دي
* * *

ورو ځه، په قراره ځه، د غرونو په لمنو کې
خوږ به دې څنګونه سي
ستا د ارغوان ترلېمه وینې خوځېدلی دي
رنګ به دې لاسونه سي
ستا د ګل سرخ پر لمن وینې تو کېدلي دي
ورك به دې مزلونه سي
مه ورځه نسیمه، د کېږدۍ پر لورې مه ورځه!
مرګ پکې کرلی دی

ورکه مبنه

مه غواړه شرنګی له امېلونو له پاولیونه
ژوند پکې سوځلی دی
نورې نه کېږدی‌ستته،نه دنیمې شپې اورونه ستته
نه سپینې سپوږمۍ‌ته چادنازکیسې رمزونه ستته
نه ستا هر کلي ته شنه باغونه، چمنونه ستته
نه د دنګو پېغلو پر نرۍ غاړو لاړونه ستته
هر څه سوځېدلي دي
هر څه زمولېدلي دي
هر څه نړېدلي دي
ډوبې دي د ژوند د حرکت بېړۍ
ورکې دي د ځوانو ارمانو لړۍ
ماتې دي د مینې د الفت کړۍ
هېره ده د عشق او پیوستون نړۍ
تاته نه کوربه ستته نه سلام ته څوك درتللای سي
نه دې نسترن ته نه غاټول ته خندیدلا سي

ورکه مېنه

نه خوږ منې پېښې ستا پر لمنو نڅېدلای سي
نه دا ماتې لیچې په اتڼ کې غورځېدلای سي
مه پوښته نسیمه،زماد غرونو څوکې مه پوښته!
تیرې یې درد منې دي
مه ښوروه ونې له ګل بوټوڅخه لېرې سه !
څانګې یې خوږمنې دی

واشنګټن

۱۹۸٤/٤

نذرانه

هر څه درپرېږدمه د جانان خبرې مه کوه
ما د اور خلیل ته د ایمان خبرې مه کوه

زه دمرګ په طمع د ژوندون په لارو ګرځمه
سر چې نذرانه سو د تاوان خبرې مه کوه

ما ته په تقدیر کې د خزان زنۍ په برخه سو
نورې د بهار او د بوستان خبرې مه کوه

زما یې د ځوانۍ د ګلو پاڼې رژولې دي
هیر که د انامرده د باغوان خبرې مه کوه

ورکه مېنه

ما د ښو اوبدونه لاسونه پر سر کړيدي
ما ته د ملك او د شيطان خبرې مه کوه

تا چې د جنون په نامه جوړې زولنې کړلې
عقل لېونی سو د زندان خبرې مه کوه

ما يې د فردوس د کوثر جام په دو وهلی دی
ما ته د دنیادسو دو زيان خبرې مه کوه

ما په وينو سترګو ستا خوبونه دلته رلسدل
پرې مې ږده زاهده د آسمان خبرې مه کوه

زه د لېونتوب لپاره هسې پلمه غواړمه
ما ته د مجنون او د بيابان خبرې مه کوه

ورکه مېنه

زه لکـــه حباب د اوږده ژوند سره آشنا نه یم
ما ته د سېلونـــو او تـــوپان خبرې مه کوه

واشنګټن

۱۹۸٤/٤

ګیله من اشنا ته!

دا شعر د حبیب الله رفیع د "اورونو اوویرنو" د کتاب او د هغه د رالېږلې ګیلې په ځواب کې لیکل سویدي.

زړه تــه راتــېره ګیله منـــه آشـنا!
ستاله خوږو - خــوږو ګــیلـو وګـرځـم
ستالــه سـپېڅلـو اسویلیو قـربـان
ستالــه ویــرجـنـو تــرانو وګـرځـم

ستـا د "اورونـو او ویــرونـــو" بــهیـر
زه ســـوځـــولی، ژړولـــی یمـــــه

ورکه مېنه

ستا د تـــودو ويرجنـــو چيغـو آواز
لــه درانــه خـــوبـــه پـاڅولی يمه

تـــه بـــاوري يې چې دا سرې ويني به
نــن کـه سبـاوي چـيرتـه رنګك راوړي
د آزادۍ د نـــاوې لاس بـــه سره کا
د مستۍ بزم بـه پــه شرنـګك راوړي

مـــا د هلمند سره د حـــال پـه ژبـــه
کيسې د فتحې د جـــشـنونـو کـړې
مـايـــې لـيدلي دي ياغي خوبـونــه
مـــا سلسلې د تعبيرونـــــــو کـــړې

ته وايې مه غـواړئ له مـانه مســتي
ژونـدی جهـــان دی تـــوپانـــو ځپلی

ورکه مېنه

ستا څخه هېر دی د پایزیب شرنګهار
وحشي لښکرو دې کورګی وهلی

ما له پخوا دا خزاني قافلې
د خپل ژوندون پر منزل واړولې
هېر مې کړل ټوله د ځوانی یادونه
هیلې مې هم ټولې نابنادې سولې

زه یو ناکامه نابلده سفر
د پردو غېږې ته راوړی یمه
دلته پوښتنه د دردونو نسته
زه بې دردیو ګونګی کړی یمه

زما د احساس په تال کې ورکې نغمې
د دې محفل د اورېدلو نه دي

ورکه مېنه

زمـا د ګونګې ژبــې خاموشې چيغې
دلـتـه د چـا د پــوهـېدلـــو نـه دي

دلته يـوې رېښتونې کـړيکې سره
د تــزويــرونـــو جهـــان وخـوځـېـــږي
چابـــه لا سترګــې رپـــولی نـه وي
دلته زرګـونـــې اوښکـــې وبهـېږي

زه يو پـردېس يـو نـــااميـــده شاعر
زمـا اسويلي د اورېـدلـــونـــه دي
زه د نصيب ښـکاري ويشتلی مرغه
نــور مـــې وزر د الـــوتـلـو نـه دي

زمـا د خيـــالـونـو نـړۍ ونـړېـده
نه "جهانـي" نه يې جـهان پـــاتـه دی

ورکه مېنه

زمـــا د آرزو پـــسرلـی ورژېـــدی
نه يې نسـيم نه يې باغوان پاتــه دی

واشنګټن

۱۹۸۵ - ۳

سُرابي هیله

یه زمـــا لـېونـی خـــوبـــه!
یـــه زمـــا غـــرځـــنی مـــینـــې!
یـــه زمـــا کـــوثـري خـیـالـــه!
یـــه زمـــا اورنـــــی ویـنـــې!

یـــه زمـــا سُـرابـي هیلـــــو!
یـــه نـــیـمګړو امیـدونـــــــو!
یـــه پر ورکـور بـــاطـــونـــو!
هـېـرو سویـــو ارمـــانـــونـــو!

یـــه زمـــا د خـــوب لـــه ذامـــه!
خوځـــېدلـــو هـــوســـونـــو!

ورکه مینه

یه زما د خیال له غېږې!
ورکوسویو جنتونو!

یه زما له ماشوم لاسه!
الوتلو مرغکیو!
یه زما خوښی پایمالې!
سوځېدلو بد مستیو

یه زما د فکر سینده!
یه زما د نظم اوره!
یه د ژوند ورکه ساحله!
د هوښیارې مستی کوره!

یه زما سېرابې تندې!
یه زما سُرابي جامه!

ورکه مېنه

د بې هوښه عقل خياله!
له اغازه تر انجامه!

يه زما فرهادي منډو!
يه زما مينې شيرينې!
د قسمت هېره سينه کې
خوځېدلې تودې وينې

زما ياغي مستو خيالونو!
يو وار زړه ته راستانه سئ
زما خوږو ورکو خوبونو!
بيا پر سترګو مېلمانه سئ

يو وار بيامې ورلاهو کئ
د خيالي کوثر څپوته

ورکه مینه

زمــا د خضر سمـــــندر تـــــه
زمــا نــــامــرادو انـــد ښنوتــه

یـــو وار بــیا مــي په سینه کې
د ځـــوانــی لمــبه تـــــازه کئ
یـــوه مسته اینبـــــمه غــوارم
نــور مي ژونــد لـمبه لمبه کئ

یـو وار بــیامـــي شیخ تــه یوسئ
د ګنــاه زرګــونـي پــــانـــي
د سنګـــسار میــدان تـــه راوړئ
د بـــي هــوښه قسمت کــانـــي

مــــاتــه مـــه وایـــــه نصیــبه!
چـــي رښـتیا مي سول خوبــونه

ورکه مېنه

ماته مه راوړه نسیمه!
زمولیدلي سوغاتونه

ماته مه بنایه آسمانه!
ستا له قهره سوځېدلي
ستا یاغي سیلاب وهلي
ستا خوني توپان وژلي

زه رښتیا یم کړولی
زه خیالونه درنه غواړم
زه له وینو سترګو ژاړم
زه خوبونه درنه غواړم

دا د عقل ځنځیر واخله!
لېونی آزادي راکړه!

ورکه مېنه

کــــه احســــان د ژونــــدانــــه دی
دا خیــرات دې نیمــه خــوا کــړه!

ویر جینا

۱۹۸٦ N

هسکه پامیره!

هسکه پـامیــره د غرونـو میره!
بیادې پرتـې دي واورې پــه ږیره
بیا دې لـمن ده د کیسـو ډکــه
د چا لـه فتـحــې، د چا له ویـره

زمــان دروړی لښکـــر د تــکو
پــر ســـر دې اوري سره آفتونـه
د حـوادثـو ځولۍ در سیخ سـوه
د تـورو وربــځو یاغي پوځونــه

بیادې په غیرېکې پنجشېریاغی‌دی
بیا درنه رپـې دخلـکو زوړونـــه

ورکه مېنه

بیا دې ښکاره کړي پولادي موټې
بیا دې له زوره ډك سوه رګونــه

بیا دې شل کړي بیادې مات کړي
د چا لاسونه د چا غاښونه
بیا لــه سکندره لارې دې ورکې
بیا یې خوړمن دي ټول اندامونه

بیا دې چوغې ته ارم سول غشي
بیا دې په ترو ګرځي ټانکونه
بیا امتحان دی، بیا ازموینه
بیا د سل ګونو فتحو یادونه

بیا دې پر څوکو واورې لمبه سوې
بیادې ګرېوان ته تويسول اورونه

ورکه مېنه

بیا دې لمن کې د مرګ نارې دي
بیادې د روکې ورك سول پوځونه

هسکه پامېره د غرونو مېره!
بیا دې پرتې دي واورې پر ږیره
بیا دې لمن ده له کیسو ډکه
د چا لـه فتحې د چا له ویره

لا درکې شته دی زړې سکروټې
لا درکې خوځي پلرنی وینه
درته یادېږي تېرې خبرې
لا درکې اوسي پروني وینه

لا درکې ګرځي زاړه پلرونه
لا درکې ږېږي نوي مېړونه

ورکه مېنه

لا دریادېـږی د زمــــرو مېـنـې
د بـري چیـغـې، زاړه نـکـلـونـه

لا دې هستېږي پـه لوړو څوکـو
د عــقابـانــو کـلـي کـورونـــه
دربانـدې ګرځي تېرې منبـــوکې
ښـکاري منګولې، یاغـي وزرونـه

لا دې خروښېږي پر سختو کاڼـو
د قهرېدلو اوبــو مــــوجـــونـــه
لا دې غړومبېږي پـه ګـړنګو کــې
خړې باډاسکی، وحشـي سېلـونـه

لا دې لـړزېـږي لـه قـهـره موټـې
لا دې سینه کـې زلـزلــې پـاڅي

ورکه مېنه

لا دې مستېږي جنګ ته رګونـه
لا دې پــر ګارو سېلونه نـاخــي

هـسکه پامیره د غـرونو مـیـره!
بیا دې پرتـې دي واورې پـر ږیره
بیا دې لمــن ده د کیسو ډکـــه
د چـا لـــه فتحې د چا له ویــره

څوچــې نـرۍ وي ژونـدی به پايي
څوك چې اوسېږي ستا پــر لمنـو
کیسې به نـــه سي د زمـان هېـرې
ستا د پلـرونو ســتا د زامــــنو

څوچې جهان وي هسکې به اوسي
ســتـا د لمنــې پــولادي پـرښـې

ورکه مینه

ورکې به نه سي په افسانو کې
ستا په دروکې د وینو کربښې

څوچې آسمان وي،څوچې زمان وي
ستا خرخښې به پکښې یادیږي
چې تاورکړي د غضب غشي
نه به مړه کیږي، نه به رغیږي

څوچې دامځکه،څوچې انسان وي
ستا به داستان وي او ستا خبرې
هیر به یې نه سي کاري وارونه
که اسکندر وي که سرې لښکرې

هی درواری سم د ګوربت کوره!
ستا له درو، نه - ستا له شیلونه

ورکه مېنه

ستا لـه عظمته، ستا لـه قدرتــه
له لـوړو څوکـو لـه ګړنګو، نـــه

هسکه پاميره، د غـرونـو مـيره!
بيا دې پرتې دي واورې پر ږيـره
بيا دې لمـن ده لـه کيسـو ډکـه
د چـا لـه فتحې، د چا لـه ويـره

وير جينا
۱۹۸۵/۳

جنون

پرېږدئ چې دا تورې توپاني ورېځې
بيا د شنه آسمان کنارې ونيسي
پرېږدئ د وحشت دا لېونۍ څپې
و څرخي راتاو سي ګردابونه سي
ډوبې کړي د ژوند بېړۍ
غرق سي د هستۍ مفهوم
سره سي د اُفق لمـــن
توى سي د غروب اوښکې

پرېږدئ ګناهونه رانه وتښتي!
پرېږدئ جهنم راباندې سترۍ سي!
پرېږدئ چنګېزي منګولې سرې سي بيا!
پرېږدئ انساني چيغې خاموشې سي!

ورکه مېنه

ړنګی سي د ژوند نغمې
وخوځي د مرګ څپې
مستې سي، موجونه سي
جوړ ترې سيلابونه سي
پورته توپانونه سي
وېښ سي شيطاني ارواح
وګرځي راوګرځي
وسو ځي وزر د فرودسي قاصد

پرېږدئ چې د توپ تر اورنی سينې
سرې لمبې راوالوزي
وغړمبېږي وخوځي
کور د ښتن وسوځي
پورته سي د مرګ چيغې
خيرې سي نازک زړونه

ورکه مېنه

ورانه سي پر شونډو زمزمه د ژوند
چوپې سي نیمګړې سي نغمې پسې
پرېږدئ چې د تانګ تر آهنینو پښو!
لاندې سي نازکې د ځوانۍ هیلې
پرېږدئ داتوم د خر مستۍ بچي!
ورانه کي، تالاکي د ورورۍ نړۍ
ړنګه سي د ژوند د تمدن لاره
هېره سي د عشق او پیوستون کړۍ
عقل د جنون و کورته ننوځي
پوه سي د آدم دا آدم سوز بچي
څشی یې وژلي دی؟
څشی یې سوځلی دی؟
ولې یې وران کړیدی؟
ولې یې د ژوند ترانې چوپې کړې؟
ولې یې د عشق نغمې خاموشې کړې؟

ورکه مېنه

ولې يې د مينې د جنت تر ځنګ ؟
اور د دښمنۍ او عداوت بل کی؟

کابل

۱۹۸۰/۲۰؛

انجام

زه په هر نن کې د پرون د مرګي نخښه وينم
مــاتــه خبــرې د سبا او سباوون مــه کــوه

زه لــه آزادو الـــوتلــو بـــې نصيبه سولــم
ما وزر ماتي تــه خبرې د ژوندون مـــه کـوه

زما درغجنو اسـوېليوتـــــه چې ونـــه ژاړې
باور زما په فـريـادونـو شـواخو ن مـــه کوه

ما د صياد له وېرې پرېښودل خپاره سيلونه
ماتـــه خبرې د ملګـرو د بېلتون مـــه کوه

ورکه مېنه

د زړه په خوښه د قسمت ودام ته ولوېدمه
لاپې د مکر د حیلې د افسون مه کوه

تازه د عقل د زندانه راوتلی یمه
راته کیسې د هوښیارۍ د افلاطون مه کوه

ما چې له زړه څخه آرزو د سبا وشړله
راته خواږه ـ خواږه نکلونه د پرون مه کوه

ما په آغاز کې د انجام زنې لیدل ژړېدم
ما ته فریاد د زماني د اوښتون مه کوه

چې د ازل ساقي پیاله درته نسکوره کړله
بېځایه طمع له کچکوله د ګردون مه کوه

واشنګټن - ۱۹۸۷/۶

خوب وینم عالمــــــه!

خــوب ویـــنـم عالمـه کــه یې څــوك راکي مانه
ویــنـم خـپلــه مــېـنـه زمانــه پــه زمــانــه

خوب وینم "خوشــال" دی لـړزوي په کټ کی زړونه
تــورې دي، لښــکـرې دي، آسونــه دي پــوځـونه
رغــړي پـــه مـیـدان کـــې د مغلو پرې ســـرونه
مـا تــه لـه اورنګــه ده د کبــر پیــمانـــــــه
خوب وینم عـالمــه کــــه یــې څوك راکـي مــانـه

خــــوب وینم پر قبر د "مـیرویس" جنډې نخښږي
بیــا لــه کـنـدهــاره هنـګـامې راولاړیـــــــږي
بــیـــا د ګرګـینـیـانـو د مقـتل خبـرې کیــــږي

ورکه مینه

بیا راپاربدلي د زمریو خیلخانه
خوب وینم عالمه که یې څوك راکي مانه

خوب وینم عالمه چې نړېږي دېوالونه
چیغې دی، جشنونه دي، ناري دی تکبیرونه
لوېږي هم له پښو هم له لاسونو ځنځیرونه
ړنګه ده د غرونو د بازانو جیلخانه
خوب وینم عالمه که یې څوك راکي مانه

خوب وینم قاضي دی عدالت دی او حکمونه دي
وینم هتکړې دي او خیرن ـ خیرن لاسونه دي
ږغ د ځنځیرونو د زاریو اوازونه دی
لوېږي د پردو د مزدور پښو ته زولانه
خوب وینم عالمه که یې څوك راکي مانه

ورکه مېنه

خوب وینم رغیږي د کلو-کلو زخمونه
ډك دي له مېړونو واړه کلي لوی ښارونه
بیا په پښتنو پېغلو ښایسته دی ګودرونه
بیا رنځور احساس غوارې مستۍ ته بهانه
خوب وینم عالمه که یې ځوك راکي مانه

خوب وینم وطن دی، ګل سرخ دی اوجشنونه دي
مستو سخي وربځو او رولي سره ګلونه دي
پورته له ګل څانګو د مرغیو اوازونه دي
هېره په وصال کې د بېلتون ده افسانه
خوب وینم عالمه که یې ځوك راکي مانه

خوب وینم د لوړو غرو په سر واورې ویلېږي
خوځنده سېلونه په سیندونو کې مستېږي
سر وهي له ګارو هم نخېږي هم خښمېږي

ورکه مینه

ناخي يې ځپي د جاله وان پر ترانه
خوب وینم عالمه که یې ځوك راکي مانه

خوب وینم غروب مرغلین کړي دی دښتونه
ځل وهي شغلو کي د سپیدار لانده برګونه
بربنبي د کوترو د سېلونو وزرونه
ځرخي ډلې کاشانه پر کاشانه
خوب وینم عالمه که یې ځوك راکي مانه

خوب وینم "غني" وي په ورو- ورو راته مسېږي
لاس کي يې"پانوس"دی"پلوشې" ترې پورته کېږي(۱)
ځي هغي نړه ته چي خمار پکې مستېږی
ګرځي په مستانو میخانه په میخانه
خوب وینم عالمه که یې ځوك راکي مانه

ورکه مېنه

ما يې تعبير کړيدی دا خوب مې رشتيا کېږي
نور د اولسونو د ښامار ستونې څيرېږي
زموږ ورکې مېنه، زموږ جونګړه آزاديږي
ګرځو به په غرونو کې سرشار او مستانه
خوب وينم عالمه که يې څوك راکي مانه

وير جينا

۱۹۸۶/۸

---

(۱) "پانوس" او "د غنی پلوشې" د پښتو ژبې د مشهور شاعر غنی خان دوه شعري مجموعې دي.

تهمت

یوه ورځ سوی وارخطا په تاخت روان ؤ
پټېدئ د لارویو له ږغونو

تولـه ژوی یې ترسترګو غلیمان ؤ
وېرېدئ له کانو بوټو له ښاخونو

کله دلته کله هلته غلئ غلئ
ښې چاودې پر زړه پېټې د غمونو

دوه غوږونه یې پر سر تیارسئ کړي
سترې زړه سره لګیاؤ په برېتونو

یو نا څاپه یو آشنا ورباندې ږغ کړه
سوی له کومه سترې راغلې په ټوپونو

ورکه مینه

او دا سترګي دې پرخه لـه وهمـــه ډکـــې
چـا درکښې ایستلـه وېـره پـه رګونـــــو

کـــوم لېوه دربـاندې کړې څـه حمله ده
کـه دې ډزې دښکارې دې تـر غـــورېونـو

سوی‌له وهمه رېږدېدی‌خوله یې‌کړه خلاصه
سوه نـــازلـه یـــې لـړزه پـر انـدامـونـو

ویلـــې پیـل دی چـاوژلی پـه څنګله کـــې
تـول وجـود یـې دی زخمـي له ګوزارونو

نـــه چـې مـا بـاندې ګومان د قاتل وسـي
زه بېرېږم لــــه تهمته لــــه تـــــورونـــو

ورکه مېنه

داخوارځواکی ځان مې ډېرراباندی‌ګران دی
په تلـوار ځــمــه تــــر کــور تــر اولادونــو

واشنگټن

۱۹۸۷/٤

بودۍ مينه

ساقي سينه کې بلې پتۍ لـــمبې دي
خم تـه راغلـى يـمه واخلـه پيالې دي

سينه کې وښورېدل بيده خيـالونه
د بودۍ مـينې مستـې زاړه يـادونـه
سترګـوکـې ونځېـدل تېـر حسابـونـه

يـوسـه د عقـل زنـځير او زولـنى دى
خـم تـه راغلـى يمـه واخلـه پيالى دى

لا مـى پـه وينو کې ستـه زاړه اورونه
لا لېونتوب ته خـو ځـي ژونـدي رګونه
لا مـې بخري زاړي خپـاره نظمونـه

ورکه مېنه

لا مې په زړه کې ژوندۍ څو ترانې دي
خم ته راغلی یمه واخله پیالی دي

نن د کلونو تږې دلته اوبېږي
د زخمي هیلو پرهار پکښې رغېږي
څپې د وصل راځي هجر ډوبېږي

نن د زاهد پر خونه د غم نارې دي
خم ته راغلی یمه واخله پیالې دی

نن د حافظ په حکم توبه ماتېږي
د ګناهونو کاتب ستومانه کېږي
د عقل فکر زندان رانسکورېږي

ورکه مینه

زما لیونتوب پخوا جوړې پلمې دي
خم ته راغلی یمه واخله پیالې دي

نور نصیحت ونکړي شېخه نادانه
په نا پایانه شراب کې سر ګردانه
ځکه مې کوچ راکړی ستا له جهانه

زما د بقاء په کوثر کې اجارې دي
خم ته راغلی یمه واخله پیالې دي

تا دابلیس له ویرې شپې کړلې سپینې
ماپه مستۍ وچې کړې شیطانې وینې
تادتوبو په اوښکو سترګې کړې خوږینې

ورکه مېنه

زمــا د تــوکــل پــه میــو ماتې توبې دي
خــم تــه راغلی یــمه واخــله پیالــې دي

زه او ســاقــي د ازل ګــناهکــاران یــو
مورږ د قــسمت په تقسیم سره خپلوان یــو
ته د نصیب جنتــي مــورږ دوږخــیان یــو

ما "جهــاني" منلــي دا فــیصــلــې دي
خم ته راغلــی یمــه واخلــه پــیالــې دي

ویر جینیا

۱/ ۱۹۸۸

ګاونډي ته

ګوره اشنا زما ګاونډيه اشنا!
زماخواره بوښکې کورګۍ اور اخيستې
هغه پښخوا چې دې بخري بلل
پرون لمبې سوې نن يې زور اخيستې

زما د بابا مېنه يې ورانه کړله
زما يې مکوټ کړل د هستۍ نومونه
زما پر دښتو باندې واورې سوځي
راته يې اور کړل د اميد باغونه

زما له نيستمنو کنډوالونه خېژي
مظلومې چيغې د حسرت دودونه

ورکه مېنه

وربانـدې اوري لـه آسمانه تکـې
وربانـدې ګرځي لېونی ټانکونـه

زمـا پـر وطـن بـانـدې آفت راغلی
يـوه بـلا ده هـېوادونـه لـوټـي
ملکونـه وژنـي د خـپلوۍ په نامه
پـه نـوم د سـولـې جهانـونه لوټي

ګـوره آشنا زمـا ګـاونډيـه آشنـا
زماخواره بوښکی کورګی اور اخيستی
هغـه پـخوا چـې دې بـخـري بلـل
پـرون لمبې سوې نن يې زور اخيستی

مـا هـم د خپلـو ګـاونډيو پر کـور
د سـرو پـوځـونـو چپـاو ونـه ليدل

ورکه مینه

ما هم له ډاره څه ویلای نه سو
ما هم د سترګو تر کونجونو کتل

ما هم لیدل چې د اسلام پر پولو
د بې مذهبو سیلابونه راځي
د خپلواکۍ د جنګیالیو کورته
د زورورو تاړاکونه راځي

ما هم لیدل چې محرابونه سوځي
د بریتور ستالین وحشي پوځونه
ما هم لیدل چې د برچو په څوکو
پورته کېدله بې ګناه سرونه

هغه پرون چې مې پردي بلله
هغه اورونه مې انګړ سوځوي

ورکه مبنه

چې مې د بل د کور غل ونه باله
هغه ډاکو مې نن هستي لوټوي

ګوره آشنا زما ګاونډیه آشنا
ستا تر لمن لاندې لمبې وینمه
دې اژدها لازه خوړلی نه یم
چې بیایې تاته سترګې سرې وینمه

دغه زلخوړې وړې تړې ښامار
په مړیدلو باندې نه پوهیږي
چې څومره خوري خروړې کیږي پسې
فقط پړسیږي، مګر نه مړیږي

دغه لمبې څه پولې نه پېژني
ستا تر ګریوانه به هم ورسیږي

ورکه مینه

نن يې لازمي ستا په کور کې وینم
تاته به هم سکروټې و تړوکېږي

ګوره آشنا زما ګاونډ یه آشنا
زما خواره بوښکې کورګي اوراخیستی
هغه پخوا چې دې بخري بلل
پرون لمبې سوې نن یې زور اخیستی

ویر جینیا

۱۹۸۵/۶

دعوه

کندهار مې د بابـا پـه قـوالـه دی
که پنجشیردی‌که واخان دی‌وطن زمادی

هره لوېشت مې د نیکه اوبـابـاګور دی
پرهرګام بـاندې لحـد او کفن زمـادی

هرغـاتول یې زماله وینو رنګ اخیستی
داپـه ویـنو روزل سـوی چمـن زمـادی

لـه نیکـه راپـاتـه سـوی پـه میراث دی
داد مشکو رباتـونـه ختـن زمـادی

سرداري یـې زمـاپـه پـچـه ده ختـلـې
لـه آموتر مست هـلمنده ماء من زمادی

ورکه مبنه

که تاجك دی که اوزبك دی یوافغان دی
ددې خاورې هزاره ترکمن ز ما دی

چې فکرونه د نفاق پالي په سرکې
امتیازیې دوهلو کشتن زمادی

ښه یې زمادی،بدیې زمادی هرڅه زمادی
د دې خاورې ارغوان اوزغن زما دی

د لته هره تیږه، کانی بدخشان دی
دا لعلونه، غرونه دمن زمادی

دازل تقسیم باغوان یم پیداکړی
دا بهار دا لاله زار او ګلشن زما دی

دامورچل مورچل پکتیا او داشیرېریتي
چې فلك به کوږ ورګوري دښمن زمادی

ورکه مېنه

که"مېرويس"دی که اکبرکه مسجدي دی
هره توره، هـر ميدان او تورزن زما دی

فتح زماده،فخرزما دی، جشن زمـا دی
شهيد زما دی د ويرژلـو شيون زمـادی

چې په زړه کې څه درتېرنه سي آسمانه!
چـې پرون مې د نيکونو وو، نن زمادی

ويرجينيا

۵ـ ۱۹۸۸

دروغجنه مينه

درته يادېږي هغه سره ګلونه
چې دې اوبوکې ايښودل په مينه
تر سترګو لاندې دی کتله راته
تا ويل دا به زموږ د مينې او ګرانښت شاهدوی
يوه ګړی وروسته مې
غېږ ته راولوېدې
خوره وره سوې
اومچولم دې، کښې کښلم دی
ز بيښلم دی هم
شپه ترسهاره يو د بل په غېږ کې اوښتلو
راته يادېږي دی زګېر وي
او خوبولی سترګې

ورکه مېنه

شپه وه سهار سوله رخصت مې سوی
له سترې غېرې
ته پوهېدې چې بيابه ونه وينو
زه پوهېدم چې راستنه به نه سې
راته دې پرېښودل ځومړاوي اوخزان ګلونه
هسې بې روحه او خزانې پاڼې
لکه احساس د دروغجنې مينې
لکه پلمې د هېرو سوو وعدو

کوټه

١٩٨٨/١/١

رسوا رازونه

هېرې به مې نه سي چې دې غتې سترګې پورته کړلې
پاس دې آسمان ته کتل
اور اروانې دې سوی اوښکې پرمخ
ورپسې نوری راغلې
د مرغلرو دکاروان په رسم
وخوځېدې
او د ګرېوان آشنا مزل یې واهــه
ما په حیرت ـ حیرت کتله ورته
هغه ګړۍ هر څه رسوا سوه هر څه وسپړېده
د نمکي خندا افسون څه پټولای نه سو
هر څه دې وویله،
په هر څه وپوهېدم

ورکه مینه

خو زه بې وسه وزر وچه مرغه
زه د تقدير قفس تړلی ومه
زه ستا پر لور د الوتلو نه وم
ځکه مې اوښکې پاکولای نه سوای
ځکه مې تشه ننداره کوله

کوټه
۱۹۸۸ ۲/۱۱

آرزو

کشکی چې نه وای زما او ستا ترمنځ
دا لوی ـ لوی غرونه
کشکې چې نه مو وآی سیندونه اوښارونه ترمنځ
یا مې وزر درلودای
او یا مې روح در استولی وای د خیال پر اوږو
یوې خبرې لره
یوه پیغام دپاره
درسره مینه لرم هېر مې نه کې
دلته مې زړه ستا د خیالونو سره
هلته مې روح ستا د خوبونو سره
ملګری کړی وای
خوته په خپله

ورکه مېنه

د بې پروا ښکلې ماشومې په څېر
له هرڅه ـ هرڅه بې خبره غونډې
زما د آرزو پر چمن ګرځېدلای
لاندې کولای دې نازکې غوټۍ
اوهیر ولای دې زخمي ګلونه

کوته

۱۹۸۸/۱۱/۱۰

زرغونه کالي

رنګک که کالي مې د شنو پاڼو په شان
يو وارې بيايې رنګک که
ځنګيالي نه اغوندي سپينې جامې
ګرانې و ځنګک ته وځم
يو وارې بيا ورځمه
څو دبادونو،بارانونوپه لښکرکې ډوب سم
زه به توپک پر اوږه
په برياليو زرغونو جامو کې
د سرو ګوليو او بمونو له بارانه څخه
له تاوده ځنګه څخه
درته را ګرځمه او هېرې به کم
زما د زادګاه په زرغونو جامو کې

ورکه مینه

د آزمویني سختې ـ سختې ورځې
د کړاوونو ډکې ـ ډکې لحظې
هغه کالي چې زرغونه دې رنګ کړه
دا به د میني په ښایسته بهار کې
د تل د پاره زرغونه پاتې سي
او تودوي به مې په مینه ـ مینه

کابل

جون ـ ۱۹۸۰

د پښتانه مینه

چېرې چې کور د پښتانه وي هلته
یا هسکې څوکې وي یا وچ دښتونه
نه یې جلګې وي په ګلونو پټې
نه یې په خوا کې وي روان سیندونه

ورته په قار د لومړي ورځې تقدیر
ورته په تریو تندي کتلي آسمان
ورله بخښلی دي ترینګلی قسمت
سترې مزلونه د شېلو او بیابان

د غرو لمنو کې شکېدلې کېږدۍ
ورکې اوسېږي د کلو رنځونه

ورکه مینه

یوې نرۍ ویالې له څنګه سره
چا آباد کړي وې ختمین کورونه

د لمر له تاوه لکه توره تبې
د ښایستو پیغلانو سپین مخونه
ابۍ تر شاوې یو ماشوم ترلی
وهي د ژوند سره مله مزلونه

لا مرور آسمان زلمې اوروي
لا د نصیب سترګې کږې دي نورې
لا د ازل کوکل تش سوی نه دی
لا یې په برخه سختې شپې دي نورې

لا یو د بل د مرګ په طمع ګرځي
لا وارنوي دا با ورانه خونه
لا یې یادېږي د تربرونو کیسې
زړوکې یې بل د انتقام اورونه

ورکه مېنه

لا يې سپين ږيري د بدۍ په زهر
وژني احساس د وروړګلوی د مينې
پلرونه مينديې د کسات په لمبو
ورتودوي د اولادونو وينې

کله به يوسي دا مور مړی اولس
کله به ورکه سي زوی مړې بدي
کله به "بيت نيکه" خپره کي لمن
کله به جوړ کو پکښې کور ابدي

کله به ويېژني يو له بله
کله به مات کړي دا پردي خطونه
کله به جوړ سي د زمريو کلی
کله به تښتي سور لنډي پوځونه

کله به خويندی سي دښمني خوني
کله به وروڼه سي غليم کورونه

ورکه مینه

هـــېرې کـــئ تېرې د بــــدل خبـــرې
سره را واخـــلـــي د وروری نـکـلـونـه

۱۹۸۸/۱۱/۱۹

یادونه:
دا شعر له کوټې څخه د پېښور پر لار په طیاره کې ویل سوېدی.

دا کونړ دی

دا نړېدلی وطن، دا سوځېدلی خوني
دا له مړونو خالي، دا حجری خوړمني

دا په ګولیو زخمي، دا په بمونو الوی
داشني جلګې پرونی نن په اورونو ستی

دغه بې کوره ژوندي، دغه بې ګوره مړي
دا لیلام شوې هستی هر څه لوټمارو وړي

دا تالا سوې کوڅې دا چپاو سوې دېرې
دا د غضب ورونه، دا لوټېدلې میرې

دا د کونړ کلي دي، د پښتنو ښارونه
دا د مهمندو کلا دا د ساپیو خونه

ورکه مینه

درسپیلنی دې سمه،زما بې ښبتنه خلکو
زما دړې وړې میني، زما بې وطنه خلکو

ستا له یتیم صدقه، ستا له شهیده قربان
لکه چې نه ختمېږي، ستا دغمونو داستان

یود"کرالي" قصاب بل د"ترنګک" داړه مار
درته لمبه سوه ځمکه،درته آسمان سوېه قار

زما ملنګو خلکو دا د کـوم جــرم سزا
زما معصوم اولسه! ووایه څـه دی ګناه؟

لکه چې نه سرېږي درباندې زړه د آسمان
چې در ښکارلی یې دی د مرګکیو باران

کوم غم دې وژرامه، کوم تپ دی وګنډمه
د کـــوم شهید جنازه درســره ونیسمه

ورکه مینه

لا بـه تر څـو دراوري دا د اورنـو څولی
لا بـه تر کلـه درځي د جلادانـو ټولی

لا بـه تر څو لوټوي ستا د لالـونـو لړی
دا د نـامـردو ډلـې دا د رهـزنـو غدی

کـونړه! تېرې به سي د کړاوونـو ورځې
د جنـازو خـبـرې دا د غـمـونو ورځې

بیابه دې وخوځېږي په سیندکی‌مست موجونه
بیا بـه دې وغورېږي د شنو درو سېلونه

بیابه حجروته درځي چنګک اونري برېتونه
بیابه له لېرې راځي د ټنګ تکور ږغونه

درکې به ډېرې وسي کیسې دعشق اومینې
خو پـاکېـدلای نه سي ستا د لمنې وینې

ورکه مبنه

څـه چې پـر تـا راغلي د هېرېـدلو نـــه دي
کونـړه! ستا قاتلان زمـوږ د بخښلو نـه دي

پیښور

۱۹۸۸ /۱۲/۱۷

مات بتان

ښه سو چې غټ بتان راوپرځېدل
ښه سو چې رنګې سولې دنګې مانۍ
ښه سو چې وګړېدې ګونګې ژبې
له لاسو ولوېدلې توري کړې

د سمندر څنډې ته ووتلې
د زمانې سیلاب اخیستې بېړې
سترګو کې وځلېدې وړانګې د ژوند
هېرې سوې تېرې توپانې شوګیرې

ښه سو چې ورژېدې لوېې داړې
ښه سو چې وسپړېدل پټ رازونه

PROPERTY OF ARIC Established 1989

ورکه مېنه

نور به تیاره کې د لېوه انګولا
نه کړي حرام د چا آرام خوبونه

نور به دشپې د ماشومانو سره
نه وي د وهم او بلا نومونه
نور به د چا څپېړې نه شنه کوي
د چا د ګران یا د ابا مخونه

پېښنور

۱۹۸۸/۱۲/۱۸

ARIC
B
3.532
JAH
8053

Wrākamēna

Abdul Bari Jahani

Design & Processed at Asiasoft